www.nanafghan.com

Yoon Cultural Foundation
يون کولتوري بنسټ



# د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته يوه کتنه

محمد اسمعيل يون

۱۳۸۷ ل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه

لیکوال

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پیژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د محمد ګل خان مومند اندو ژوند ته یوه لنډه کتنه |
| لیکوال: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۳ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | ( ۷ ) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | ( ۷ ) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيوليک


| ګڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | ددې اثر پر دويم چاپ څو خبرې | ۱ |
| ۲ | يادون | ۷ |
| | لومړۍ څپرکی | |
| ۳ | د محمد ګل خان مومند ژوند ليک | ۹ |
| ۴ | پر پښتني فرهنګ د محمد ګل خان مومند... | ۱۳ |
| ۵ | الف- په ژورناليستيکي او خپرنۍ برخه کې | ۱۳ |
| ۶ | ب- د ادبي ټولنو په جوړونه کې | ۱۴ |
| ۷ | ج-د روزنې او پالنې په برخه کې | ۱۵ |
| ۸ | د - د ژبې په دفتري کولو او رسمي کولو کې | ۱۶ |
| ۹ | د پښتنو په اوسني تاريخ کې د محمد ګل خان مومند... | ۱۹ |
| ۱۰ | محمد ګل خان مومند او پښتونولي | ۲۴ |
| | دويم څپرکی | |
| ۱۱ | د محمد ګل خان مومند اثار | ۳۲ |
| ۱۲ | الف- په ژبنۍ او علمي برخه کې | ۳۳ |
| ۱۳ | ب- په ادبي برخه کې | ۴۵ |
| | دريیم څپرکی | |
| ۱۴ | محمد ګل خان مومند د نورو له نظره | ۵۰ |
| ۱۵ | اخځونه | ۷۲ |
| ۱۶ | د محمد اسمعيل يون لنډه پېژندنه | ۷۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ددې اثر پر دويم چاپ څو خبرې

وزير محمد ګل خان مومند د افغانستان د معاصر تاريخ يوه ډېره نوميالۍ او معتبره ملي څېره ده، که ددې هېواد د ټينګښت او ملي هويت د ځلا لپاره په اساسي مانا چا کار کړی، نو يو په کې محمد ګل خان مومند دی. محمد ګل خان مومند د ملي اساساتو يو داسې معمار و، چې تر لسيزو وروسته خطرونه او ګواښونه يې ارزولی شول، په همدې وجه يې د هغو د مخنيوي لپاره پاخه بنسټونه جوړول. محمد ګل خان مومند د يوه افغان ملتپال، ملت رغاند او انديال شخص په توګه، ددې وطن د خدمت لپاره، څه چې له لاسه کېدل ونه سپمول او د ژوند ترپايه پورې خپلې ملي او اسلامي لارې او ګروهې ته ژمند افغاني ټولني او پښتو ژبې او ادب ته کړي، زموږ ټولنې او په ټولنې کې د فکر، نظر او قلم خاوندانو د هغو يو پر سلمه برخه هم دوزيرصيب حق نه دی ادا کړی، هغه څه چې د وزيرصيب له شان او شخصيت سره مناسب وو، هغه شان وزيرصيب چا نه دی ځلولی او نه يې څېړلی دی، خو لويې ستې او درانه شخصيتونه داسې وين پاتې شو، خو څومره خدمتو نه چې وزير محمد ګل خان موم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه سره زر، څوک یې ستايي او که نه، خو هغه خپل جوهر لري. لوی شخصیتونه هم همدا سې دي، د وخت په تېرېدو سره یې ارزښت او اهمیت زیاتېږي، خو دې سره سره ستر شخصیتونه پر اوسني او راتلونکي پښت دا اخلاقي حق لري، چې د هغوی یا د تاند وساتي. پښتانه که څه هم په توره تېره دي، خو په قلم کې یې برخه ډېره ځلنده نه ده، نو ځکه خو یې د خپل دومره لوی خدمتګار په باب هم، داسې څه نه دي لیکلي چې د هغه له شان سره مناسب وي، د هغه شخصیت دې وځلوي او زموږ سترګې دې پرې خوږې شي. زه چې د تحصیل په بهیر کې وم، نو له یونیم لیکوال، ځینو قومي مشرانو او مخورو څخه مې د وزیرصیب په باب ځینې خبرې اورېدلې وې، هغه وخت وزیر صیب زما په ذهن کې د یوه ایډیال شخص په توګه راڅرګند شوی و، نو کله چې مې پر ۱۳۷۰ل کال د پوهنځي وروستی (اتم سمستر) پیل شو او د پایلیک (مونوګراف) لیکنې په فکر کې شوم، نو ما د وزیرصیب د شخصیت شننه او ارزونه د خپل مونوګراف موضوع وټاکله. کله چې مې پر څېړنه پیل وکړ، نو ډېر کم لیکلي څه مې ترلاسه کړل، نو ډېر زیات خواشینی شوم او فکر مې وکړ، چې دومره لوی شخصیت او زموږ دا ویده حالت. د مونوګراف لیکنې په څو میاشتني بهیر کې مې ذهن له وزیر صیب سره دومره روحي رابطه ټینګه کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې يوه شپه مې خوب وليده، په خوب کې مې وزيرصيب په داسې يوه حالت کې وليده چې د اوړو يوې بوجۍ ترڅنګ ولاړ دی، سپينه او پاکه سوتره ږيره، د اوړو بوجۍ کې لاس کوي، موټی له اوړو ډکوي او ماته يې راکوي. وزير صيب پر دې ډېر خوشاله دی چې ما د پښتو د خدمت نيت کړی، هغه ما دې کار ته هڅوي، کله چې له خوبه راپاڅېدم، نو د خوب پر مانا او تعبير پوه نه شوم او نه مې تراوسه چاته د خوب دا کيسه تېره کړې، خو اوس چې ددې کتابګوټي تر ليکلو اته لس (۱۸) کاله تېرېږي، دا خوب مې د يوه امانت په توګه دلته ياد کړ، زه اوس هم د هغه خوب پر تعبير نه پوهېږم، خو دومره پوهېږم چې له هغې ورځې بيا تر دې دمه زما کور له غنمو، مېوو او دانو ډک دی او د قحطۍ او قيمتۍ په دې دومره اوږده بهير کې مې د اوړو او غنمو څه کمی نه دی احساس کړی.




دا کتابګوټی ما پر ۱۳۷۰ل کال د خپلې ليسانس دورې د مونوګراف په توګه ليکلی دی او پر **۱۳۷۳**ل کال مې په پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې چاپ کړې دی. دا اثر که څه هم یوه ډېره کوچنۍ لیکنه ده، خو هغه وخت هم زما هدف دا و چې وزیر صیب ته د نورو لیکوالو، کلتوري او علمي ټولنو پام راواوړي او له اوسني چاپ مې هم هدف دادی، له نېکه مرغه همداسې وشول، تر هغه وروسته بیا په پېښور کې ((خلیل ادبي جرګې)) د وزیر صیب په اړه یو علمي سیمینار جوړ کړ او ددې سیمینار د لیکنو ټولګه یې هم چاپ کړه او ځینې نورې لویې وړې غونډې هم په افغانستان او هم په کوزه پښتونخوا کې وشوې، اوس خو په کابل کې هم د پښتو د همدې بابا په نوم یوه ادبي ټولنه او په مزارشریف کې هم یوه ادبي ټولنه شته او فعالیت کوي، یو شمېر متفرقه لیکنې هم د بابا د شخصیت د ځلونې په باب خپرې شوې دي او بابا ته پام را اوښتی دی. خو تر پښتنو ډېرې هغه ډلې ټپلې او اشخاص چې د هېواد د ملي هویت او یووالي مخالفین دي او د یو شمېر ښکاره بهرنیو هېوادونو او کړیو له خوا یې ملاتړ کېږي، د وزیر بابا د شخصیت پر ضد یې په لسګونو لیکنې کړي او کوي یې. دې ډلو ټپلو ته د وزیر صیب شخصیت ځکه د زغم وړ نه دی، چې هغه د هېواد اساساتو ته داسې خدمت کړی، چې دا ډول عناصر اوس ان د خپلو بهرنیو ملاتړو په زور نه شي کولای، دا بنسټونه رنګ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څومره چې دا ډول ډلې او افغان ضد اشخاص د وزیر صیب د شخصیت پر ضد لیکنې کوي، هغومره موږ ته پته لګي، چې زموږ دې اتل زموږ هېواد ته څومره خدمتونه کړي دي. دا همغه سره زر دي، چې د وخت په تېرېدو یې ارزښت او اهمیت نور هم زیاتېږي. اوس نو زموږ لیکوالو ته په کار دي، چې د وزیرصیب ټول چاپي او ناچاپ آثار سره راټول او خوندي کړي، هم یې چاپ کړي او هم یې د انټرنټ څپو ته وسپاري، چې د مرګ د بلا له خطره خوندي شي. ددې ترڅنګ زموږ لیکوالو او علمي ټولنو ته په کار دي، چې د وزیر صیب د اندوژوند پر بېلابېلو اړخونو څېړنه وکړي او د هغه له اند دود څخه د اوسني او راتلونکي نسل د روزنې لپاره د روښانه مشالونو په توګه ګټه واخلي. زموږ یو زیات شمېر قومي مخورو، مشرانو، د فکر او قلم خاوندانو او سیاستوالو سره د وزیر صیب ګڼې خاطرې شته، ددې خاطرو او پخو خبرو خوندي کول په کار دي او له هغو څخه الهام اخیستل.

لکه څنګه چې دمخه مې یادونه وکړه، دا اثر چې تاسې یې ګورئ، زما د لیسانس دورې پایلیک دی، پر ۱۳۷۰ل کال لیکل شوی او پر ۱۳۷۳ل کال چاپ شوی، دویم چاپ کې مې څه خاص تغیرات نه دي راوړي، یوازې یو نیم ځای کې چې املایي، انشایي او چاپي تېروتنې وې، همغه مې سمې کړې، نور مې لیکنه د خپل همغه وخت د ارزښت له مخې په خپل شکل پرې ایښې ده. له ګران ورور ښاغلي حاجي خان محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

منګل څخه، چې له ما سره يې په ګڼو فرهنګي چارو کې مرسته او همکاري کړې او دا اثر يې په خپل لګښت لومړی ځل چاپ کړی، مننه لازمي بولم او همدارنګه نورو هغو ټولو دوستانو ته چې د دې اثر په لومړي او دويم چاپ کې يې مرسته کړې، کور ودانی وايم.

د هېواد د ملي کلتور د ښېرازۍ په هيله
په درنښت
پوهندوی محمد اسمعيل يون
کابل- افغانستان
ارګ- د جمهوري رياست ماڼۍ
د ۱۳۸۷ل کال د سلواغې ۱۸مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يادونه

محمد ګل خان مومند زموږ د هېواد د معاصر سياسي تاريخ او فرهنګ په اتلو څېرو کې يوه وتلې او ځلنده څېره ده. محمد ګل خان مومند نه يوازې د هېواد د خپلواکۍ په ګټلو کې خپل کارنده رول ترسره کړی، بلکې د تيارو او جهالت (سقاوي واکمنۍ) په له منځه وړلو کې يې هم د يادونې وړ رول ترسره کړی دی. وزير محمد ګل خان مومند د هېواد د بهرنيو او کورنيو دښمنانو نيتونو ته په ډېره ځيرتيا متوجه و، نو ځکه خو يې د ځينو نورو بادرکو پښتنو مشرانو له ايډيالونو سره سم پښتانه په شمال کې د يرغلګرو پر وړاندې د يوه سپر په توګه ودرول او د تجزيه غوښتونکو هيلې يې له خاورو سره برابرې کړې.

وزير صيب نه يوازې د هېواد سياسي ژوند ته متوجه و، بلکې اقتصادي او فرهنګي مسايلو ته يې هم ځانګړې پاملرنه لرله. هغه پښتانه د ښاري کېدنې او نوي اقتصادي سيستم له جوړښت سره اشنا کړل او هم يې د فرهنګ دروازې ورته خلاصې کړې او د يوه مخکښ فرهنګي جريان پر روزلو يې پيل وکړ، پښتنو ته يې دا حق حاصل کړ چې په خپل هېواد کې په خپله ژبه ليک او لوست وکړي، خو د پښتنو د دومره لوی خدمتګار له دومره سترو وياړنو او خدمتونو سره سره تراوسه پورې د هېواد په خپرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د هغه په باب ډېر هغه څه چې لازم وو، چا نه دي ليکلي، خو زموږ د ولس د ځينو مخورو او روښانفکرانو په زړونو او ذهنونو کې د هغه په باب ډېر څه شته چې تراوسه لا د کاغذ پر مخ نه دي راغلي. ما غوښتل چې د دغو مخورو يادونه، خاطرې او خبرې اترې له ذهنونو څخه د کاغذ پر مخ لوستونکو ته وړاندې کړم، خو په دې دوو کلونو کې د هېواد حالات داسې راغلل، چې د ژوند د چارو د ډېرو برخو توازن ګډوډ شو، نو په دې وجه د هغو کسانو ليدنه کتنه راته ګرانه شوه چې ددې کار لپاره ضرور وو. له دې کبله زما نيمګړى زيار نيمګړى پاتې شو. هيله لرم چې درانه لوستونکي او د محمد ګل خان مومند بابا د پتمنې لارې لارويان او مينان به زموږ د عذر دا ټکى له پامه ونه غورځوي.

په ډېر درنښت

په ټوله پښتنه مينه

اسمعيل يون

۲۰/۵/۱۳۷۳

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د محمد ګل خان مومند ژوند لیک

((ښاغلی محمد ګل خان د محمد خورشید غونډ مشر زوی، د مومن خان لمسی، د عبدالکریم کړوسی په قوم حسین خېل مومند دی. د ۱۳۰۳هجري قمري کال د روژې میاشتې پر ۱۳ ورځ د کابل د اندرابیو په کوڅه کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړه او دود علوم یې په خصوصي ډول له پوهانو څخه لوستي دي)).

پر ۱۳۲۷هـ ق کال د حربي ښوونځي په دویم ټولګي کې د زده کوونکي په توګه شامل او تر پنځه کلنې تعلیمي دورې نه وروسته بریالی فارغ شو او د اردلانو په غونډ کې د توپچي ځانګې د قوماندان په حیث وټاکل شو. په دغه شاهي ټولګي کې یې له یوې خوا کنډک ته درس ورکاوه، له بلې خوا یې د حربي ښوونځي د سرښوونکي په توګه وظیفه اجرا کوله او د دغه بریالي خدمت په نتیجه کې د سپه سالار صالح- محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان د یاور په حیث مقرر شو او د شاهي ګارد د قوماندانۍ چارې هم ورو سپارلې شوې.

محمد ګل مومند د ۱۲۹۸ کال د جوزا پر میاشت، د هغه هیئت غړی و چې د محمد ولي بدخشاني په مشرۍ (مولانا سیف الرحمن الکوزی، فیض محمد زکریا، محمد اسلم میرشکار، بشیر احمد خان، عبدالحمید خان، عزیزالرحمن فتحي، محمد ادیب افندي، عبدالغني ترجمان، غلام جیلاني)، د افغانستان د خپلواکۍ د معرفي لپاره اروپا او امریکا ته ولاړ.

ده پر ۱۳۰۳ل کال د پکتیا د عسکري قوماندان او اعلی حاکم، پر ۱۳۰۶ کال د مزارشریف د ملکي تفتیش د رئیس په حیث او بیا د ننګرهار د عسکري قوماندان په حیث پر کار شروع وکړه. په سقوي نا ارامیو کې لومړی پر کور ناست و. څرنګه چې عمومي امنیت او د هېواد خپلواکي یې په خطر کې ولیده، نو له خپل رسمي او ملي نفوذ څخه یې د وطن د نجات لپاره کار واخیست او پر مبارزه یې شروع وکړه. تر سقوي نا ارامیو وروسته محمدګل مومند د لومړۍ کابینې په تشکیل کې داخله وزیر او سربېره پر وزارت د ننګرهار د تنظیمه رئیس په حیث وټاکل شو او تر هغه وروسته د پروان او کاپیسا ولایتونو د چارو د تنظیم لپاره مقرر شو او بیا پر ۱۳۰۹ل کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولایتونو ؛ د کندهار او فراه ولایتونو د تنظیمه رئیس په حیث مقرر شو او په زړه پورې خدمتونه یې ترسره کړل. پر ۱۳۱۲ل کال د قطغن، مزارشریف، بدخشان او میمنې د تنظیمه رئیس په توګه وټاکل شو او د ښو خدمتونو له کبله یې د لمر عالي نښان واخیست. پر ۱۳۱۹ کال د دولت د وزیر په حیث مقرر شو. محمد ګل خان مومند د ۱۳۳۴ل – ۱۹۵۵م کال د لویې جرګې چې د انګرېز د امپریالیزم په مقابل کې د پښتونستان د مسالې په باب د ګډ تصمیم نیولو په غرض جوړه شوې وه، د نایب سالار وظیفه اجرا کړله.

محمد ګل خان مومند چې پښتانه یې د بابا او دادا په نوم یادوي پر ۱۳۴۳ل کال د اسد میاشتې پر ۲۷ مه ورځ د سهار پر ۸بجو د ۸۰ کالو په عمر د زړه دربدو په اثر، د کابل په بریکوټ کې وفات شو او په شهدای صالحین کې خاورو ته وسپارل شو [۱] ) ) (( د مرحوم محمد ګل خان مومند د جنازې په مراسمو کې د هغه وخت د دولت د ېرو لوړو دولتي اشخاصو برخه اخیستې وه ) ).

له محمد ګل خان مومند څخه یو اولاد (یوه لور) پاتې چې د لال پورې په شېراحمد نومي واده ده. ((دغه راز یو وراره یې محمد پتنګ نومېده، چې د محمد ګل خان مومند تر وفات وروسته یې د ده د ځینو اثارو خپرولو ته توجه کوله ) ). (۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرحوم محمد ګل خان مومند په دري ژبه کې هم د ښه قلم خاوند و ، پر ترکي او روسي ژبو هم پوهېده. ) ) ( ۳ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر پښتني فرهنګ د محمد ګل خان مومند
# د هلو ځلو اغېزه

لکه څنګه چې د مخه مو وويل، محمد ګل خان مومند لکه د نورو پښتنو مشرانو په څېر نه يوازې د تورې خاوند و، بلکې د قلم او ادب د دنيا لويه شتمني هم ورپه برخه وه او په دې برخه کې هم ډېر زيات خدمتونه کړي دي. که له تفصيل نه ډډه وکړو، نو کېدی شي پر پښتني فرهنګ باندې د محمد ګل خان مومند د هلو ځلو اغېزې او تاثيرات په لاندې ډول په ګوته کړو:

## الف- په ژورناليستيکه او خپرنې برخه کې:

لوی افغان مفکر سيد جمال الدين افغان وايي: ((اخبار د يوه ولس ژبه ده)) په اوسنۍ پرمختللې نړۍ کې د ژبې او ادبياتو د پرمختګ ډېر غټ او درونډ بار د ژورناليزم پر اوږو او مټو پروت دی. محمد ګل خان مومند په ډېرې ځيرتيا سره همدغه آر (اصل) ته متوجه و او د لومړي ځل لپاره يې پر ۱۳۱۱ل کال، په کندهار کې د (طلوع افغان) اوونيزه په پښتو کړه، دا په افغانستان کې لومړنۍ اوونيزه ده، چې په پښتو ژبه خپرېږي، د دې اوونيزې مسوول چلوونکی لوی استاد علامه پوهاند عبدالحی حبيبي و. تر هغه وروسته دا جريده په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتوژبه خپرېدله، له طلوع افغان پرته (( پر۱۳۱۱ل کال يې د ((پښتو )) په نامه يوه مجله هم خپروله، چې وروسته بيا د کابل له مجلې سره يوځای شوه، د کابل مجله هم لومړی په دري او پښتو خپرېدله، خو کوم وخت چې د کابل ادبي انجمن په (( پښتو ټولنه )) بدل شو نو د کابل مجله هم ټوله پښتو شوه )). (۴)

## ب- د ادبي ټولنو په جوړونه کې:

د محمد ګل خان مومند بل لوی ادبي خدمت دا و، چې ادبي ټولنې يې جوړې کړې، ځکه د انفرادي او ډله ييز خدمت او خوځون ترمنځ ډېر توپير وي. محمد ګل خان مومند کله چې د کندهار تنظيمه رئيس و نو هلته يې پر يو لړ سترو ادبي هڅونو او کارونو لاس پورې کړ.

((د ۱۳۱۱ل کال د قوس پر ۹ نېټه يې په کندهار کې پښتو ادبي انجمن )) تاسيس کړ. په پای کې دا انجمن کابل ته راغی او د کابل له ((ادبي انجمن )) سره يوځای شو او وروسته د کابل ادبي انجمن پر ((پښتو ټولنه )) بدل شو )). (۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج- د روزنې او پالنې په برخه کې:

استاد ګل پاچا الفت د فکر پالونکي او روزونکي ته په خپله د یوه مفکر په سترګه ګوري او د دواړو مقام یو شان ګڼي، ځکه که د فکر پالونکي هڅې او کوښښونه نه وي، نو د یوه مفکر منځته راتګ تر ډېره حده له امکانه لرې برېښي.

څومره نوښتګرو او لویو لیکوالو چې د محمد ګل خان مومند د پالنې، روزنې او هڅونې تر سیوري لاندې خپلو ادبي هڅو ته دوام ورکړی، نن یې په پښتو ان په ګاونډیو ژبو کې ساری نه شو لیدلای. وایي کله چې د محمد ګل خان مومند په لارښوونه لوی استاد علامه پوهاند حبیبي د ((طلوع افغان)) اوونیزه پښتو او بیا یې لومړی ګڼه د هغه د کار پر مېز کېښوده، نو محمد ګل خان مومند له ډېرې خوښۍ او خوشالۍ استاد حبیبي د خپلې مهربانۍ پر وړاندې تود کړ؛ کابل ته یې وړاندیز وکړ، چې استاد حبیبي ته دې جایزه ورکړای شي، نو لوړو مقاماتو استاد ته (۳۰۰۰۰ افغانۍ) د جایزې په توګه ورکړې، چې د هغه وخت د برش زره افغانۍ د اوس وخت له ملیونونو افغانیو سره معادلې دي. دغه راز یې استاد حبیبي ته (دوه جریبه ځمکه) د کندهار په شاوخوا او یو څه نوره ځمکه د کندهار په احمد شاهي حدودو کې هم ورکړه.

همدا رنګه محمد ګل خان- مومند د پښتو ژبې او ادب د لا غوړېدنې لپاره په بېلابېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختونو کې ببلا ببلې ادبي مسابقې او کانکورونه جوړول، د ببلګې په توګه به له دې ډول مسابقو څخه د يوې يادونه وکړم.

استاد قيام الدين خادم وايي:

[((زما وما- او – څوک)) مسئله د محمد ګل خان وزير صاحب داخله له خوا په مسابقې کې کېښودل شوه، چې ددې کلمو تفريق د ګرامر په لحاظ هر څوک وکړي او د استعمال ځايونه يې وښيي، هغه به انعام وړي. په دې مسابقه کې ډېر پښتانه اديبان شامل شول، مګر په اخره کې هغه څه چې ما ليکلي وو، قبول شول او يو اوميګا ساعت او پاركر قلم د وزير صاحب له خوا ماته په نمانځنه کې راكړل شول))] (۲)

سربېره پر دې محمد ګل خان مومند د يو زيات شمېر پښتنو د اولادونو لپاره ښوونځي جوړ کړل او په هغو کې يې د هغوی لپاره په خپله مورنۍ ژبه (پښتو) د درسي چارو د پرمخبيولو امکانات برابر کړل.

## د- د ژبې په دفتري کولو او رسمي کولو کې:

پوهان ژبه د کلتور اعراده بللې او د يوه ملت د کلتور د خوندي ساتلو لپاره ژبه اساسي وسيله ده. فضل احمد غر افغان وايي:

((ګوره خپله ژبه پرې نه ږدې افغانه
چې همدغه د قومي ترقۍ جړ دی))

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا خان د یو قوم سپکوالی او ورکوالی د هغه په ژبه کې ګوري. وايي: (( چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي، نو هغه سپک شي او چې خپله ژبه تـرې ورکه شي نو هغه ورک شي )).(۷)

علامه محمود طرزي وايي: (( يو ولس په ژبه او ژبه په ادبياتو ژوندۍ پاتې کېږي. )) (۸)

محمد ګل خان مومند د ژبې همدغه ستر ارزښت ته په ډېر دقت متوجه و او په دې برخه کې د خاص او ځانګړي نظر خاوند و.

هغه ته د ژبې د پرمختګ بنسټيز لاملونه (عوامل) ډېر ښه معلوم وو، نو په همدې وجه يې پر عملي فعاليتونو لاس پورې کړ. وايي د يوې ژبې د پرمختګ لپاره څو ټکي ډېر مهم دي، يو دا چې ژبه مذهبي بيز ولري، رسمي ياني دفتري او دولتي شي او بل علمي او اقتصادي بيز او اهميت ولري. خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزی وايي: (( د يوه قوم ژبه هغه وخت پرمختګ کولای شي، چې اولادونه يې په خپله مورنۍ ژبه تعليم وکړي )). (۹ ) په خپله محمد ګل خان مومند وايي: ((ژبه بايد وساتله شي، وپالله شي، وروزله شي، ارته کړله شي، علمي شي، ادبي شي، په هر حيث د ملت د مرستو اړنيو او احتياجاتو ته کافي شي )). (۱۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد ګل خان مومند د ژبې د پرمختګ د پورتنیو عواملو په پام کې نیولو سره لومړی د خپلې ژبې د عملي رسمي کولو او دولتي کولو لپاره هڅه او هاند پیل کړل. یو زیات شمېر پښتنو روښاندانو یې ملا وروتړله او د وخت دولت یې په دې حقیقت قانع کړ چې د پښتو ژبې رسمیت او دفتري کېدو ته جدي ضرورت دی او بل دا د پښتنو مسلم حق دی، چې په خپل هېواد کې یې خپله ژبه رسمي او دفتري وي. د همدغو عواملو له کبله (( پر ۱۳۳۶کال د دولت له خوا یو فرمان صادر شو او پښتو ژبه یې د دولت د رسمي ژبې په حیث اعلان کړه. )) او وروسته په اساسي قانون کې د پښتو ژبې د پالنې او پرمختیا لپاره یوه ماده ځای کړای شوه، چې دولت په دې خبره مکلفوي چې د پښتو ژبې د پالنې او پرمختګ لپاره هاند او هڅې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتنو په اوسني تاريخ کې

## د محمد ګل خان مومند دريځ

د پښتنو ټول ژوند له پېښو او حوادثو ډک دی. که څوک د پښتنو تاريخ په دقيقه توګه ولولي، نو ورته څرګنده به شي، چې دې ملت د خپل ژوند په اوږدو کې ايله که څو لسيزې سر په سر په ارامۍ او سوکالۍ کې ژوند تېر کړی وي. دومره جګړې پرې راتپل شوي او له دومره جګړو سره مخامخ شوی او دومره طبيعي بدمرغيو ورته مخه کړې، چې د نړۍ ډېر کم ملتونه به ورسره مخامخ شوي وي. کله چې پښتانه دې نړۍ ته راځي، نو په ډزو بدرګه کېږي او هغه بلې دنيا ته هم ډېر د ډزو له کبله ځي. د پښتنو معاصر تاريخ د خونړيو جګړو شاهد دی. دا جګړې د نړۍ د ستر ښکېلاک (انګرېز) له خوا زموږ پر ولس راتپل شوی.

خو څرنګه چې زموږ ولس د توري مېړنی دی، نو د جګړې ډېرې برياوې يې په برخه شوې دي. يو پوه وايي: ((پښتانه يې په توره ګټي او په سياست يې بايلوي)). (۱۱) خو له دې سره سره بيا هم پښتانه داسې اتلان لري، چې هم يې توره چلولې او هم قلم، هم د عمل د ډګر توريالي وو او هم د پوهې او تدبير. له امير کروړ جهان پهلوان نه نيولې تر شېرشاه سوري، بايزيد

(c) ketabton.com: The Digital Library

روښان، خوشال خان خټک، میرویس نیکه، لوی احمد شاه بابا پورې ټول د تورې او قلم، پوهې او تدبیر اتلان تېر شوي دي. په او سني عصر کې موږ یو بل اتل هم لرو، چې هغه هم د تېرو مشرانو په شان د تورې او قلم، فکر او پوهې د لویې شتمنۍ خاوند دی. دا اتل محمد ګل خان مومند دی. محمد ګل خان مومند د ننګرهار په جبهه کې د سپه سالار صالح محمد خان د یاور په حیث د خپلواکۍ په جګړې کې ګډون درلود او افغاني لښکر یې د تباهۍ او بې د سیپلینۍ له بلا څخه وژغوره او د انګریز د تورو په مقابل کې یې حیثیت ور اعاده کړ)). (۱۲)

د هېواد د خپلواکۍ لپاره پر مېړانې سربېره محمد ګل خان مومند د سقاوي اغتشاش د تورې دورې په له منځه وړلو کې هم لوی لاس درلود او هېواد یې د جهل، ناپوهۍ او فساد له منګولو څخه په ډېره لنډه موده کې خلاص کړ.

د محمدګل خان مومند د نارینتوب یوه بله بېلګه داده چې د شینوارو د بغاوت پر وخت(( د جلال اباد ښار د ټولې جګړې په ترخ کې، د جلال اباد او کابل ترمنځ ارتباط د یوې الوتکې په وسیله ټینګ و چې هره ورځ به تله راتله، مرکز ته به یې د جنګ راپورونه راوړل او له دې ځایه به یې اوامر او فرامین وروړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړه ورځ پر ورځ زياتېدله او د ښار محاصره ټينګېدله، تل به دا اوازې خپرېدې چې د امان الله خان حکومت نسکور شوی، خو د الوتکې تګ راتګ د عسکرو او لښکرو د زړه تسلي و، اما د جدي پر ۲۴مه[1] الوتکه له کابله رانغله، بله ورځ هم رانغله او په خلکو کې داسې ګونګسې خپور شو چې کابل د سقاو زوی نيولی دی، والي علي احمد خان[2] ته هم خبر

(۱) د ۱۳۰۷ لمريز کال د جدي ۲۴ تاريخ دی.

(۲) علي احمد خان د شينوارو د بغاوت پر وخت د ننګرهار والي و، دی ډېر ځانغوښتونکی انسان و، د هېواد د لوړو ګټو د ساتلو خيال يې په زړه کې نه و، کله چې شينوارو د جلال اباد ښار محاصره کړ، نو ملي مبارز زمانخان د خپلو ملي لښکرو په واسطه هغوی ته ماته ورکړه، خو علي احمد خان د ميرزمانخان بری او ښه شهرت په زړه کې نه شو زغملی، نو همغه و، چې بله ورځ يې د يوې قومي جرګې په ترڅ کې ميرزمانخان ته امر وکړ، چې د شينوارو باغيان له منځه يوسي، ميرزمانخان که هر څومره هڅه وکړه، چې والي علي احمد خان په دې خبره وپوهوي، چې په جرګه کې د ټولو خلکو په مخ کې پر هغوی باندې حمله کول هم د جنګي تاکتيک له مخې غلطه خبره ده، ځکه چې هغوی مخکې تر مخکې په دې راز خبرېږي او هم د جرګې د دود او دستور له مخې، خو علي احمد خان ډېر ټينګار کاوه او ويل يې چې زه د امان الله خان نماينده يم ته چې زما امر نه منې، لکه د امان الله خان امر چې نه منې، څرنګه چې امان الله خان ميرزمانخان ته ورور ويلي وو او هم يې د لوی خان لقب ورکړی و، نو همغه و چې ميرزمانخان جګړې ته لاړ. څرنګه چې شينواري مخکې تر مخکې له دې جګړې نه خبر وو، نو همغه و چې ميرزمانخان لښکرو ته يې سخته ماته ورکړه، نو ځکه د والي علي احمد خان ناوړه هيله ترسره شوه. پر دې وخت د سقاو د زوی د پاچاهۍ اوازې شوې، علي احمد خان چې مخکې تر مخکې يې د پاچاهۍ خيالونه ليدلي وو دا موقع د ځان لپاره مناسبه وګڼله او ځان يې د امان الله خان د وارث په توګه معرفي کړ او له خلکو څخه يې د بيعت غوښتنه وکړه. محمد ګل خان مومند چې يو زيرک افسر او سياستوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

راورسېد، ده چې لـه پخوا نـه ځـان تيـار کـړی و، نـو دولتـي مامورين او منصبداران يې راغونډ کړل او ورته ويې ويـل: ((زه دلته د امان الله خان د وکيـل پـه توګـه ټاکـل شـوی وم، خـو اوس چې هغـه تخت پرېښـود، نو تاسې بايـد مـاتـه د باچايۍ بيعت راکړئ!

څو محدودو منصبدارانو له ده سره بيعت کول ونه منل، چې په دوی کې يـو محمـدګل خـان مومنـد او بـل نورسـتانی کپتـان حميـدالله و، چـې د دې انکـار پـه نتيجـه کـې يـې دواړه کلـک کلک پـه لرګـو ووهـل)). (۱۳) بـل لـوی او د يـادونې وړ خدمت چې محمدګل خـان مومنـد پښـتنو او پـه عمـومي ډول افغانـانو ته کړی دی، هغه پـه پښـتنو کـې د ملـي شـعور راټوکـول و او پـه دې ډول يې پښـتانه (د يـو بـل لـوی ښـکېلاک) پـه مقابـل کـې د سپر پـه توګه ودرول، پښتانه يې د راتلونکو څو لسيزو عـواقبو تـه متوجـه کـړل، چـې کېـدی شـول د هغـو پـه وجـه د بهرنيـو دښـمنانو پـه لمسـون او لاسـوهنې، د افغانسـتان فعلـي بڼـې بدلون موندلای وای، خو د محمد ګل خان مومنـد د فکـر لرليـد دومره دقيـق و، چې دا ټول عواقب يې مخکې تـر مخکـې لـه

---

و، د علي احمد خان پر ټولو هيلو، نيتونو او چلندونو ښه خبر و، نو هغه ته يې له بيعت څخه ډډه وکړه او ويل يې چې امان الله خان بايد بېرته پاچا شي، خو علي احمد خان هغه تر سختې فزيکي شکنجې لاندې ونيو، خو محمد ګل خان مومند له خپلې عقيدې نه وانه وښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظره تېر کړي وو. بل يې پښتانه د ښاري ژوند دلارو په لټون پسې وهڅول او د اقتصادي سرچينو د پلټنې او لاسته راوړنې لارې او ګودرې يې ور په ګوته کړې. خو که په لنډه او خلص ډول د پښتنو په اوسني پېښليک (تاريخ) کې د محمد ګل خان مومند پر دريځ خبرې وکړو، نو وبه وايو: دی د پښتنو داسې يو ستر ملي او فرهنګي شخصيت دی، چې د هېواد د ملي واکمنۍ د کورنيو او بهرنيو دښمنانو د قوت روح يې مخکې تر مخکې ځپلی او د فکر مزي يې ورشلولي دي، پښتانه او په مجموع کې ټول افغانان يې له يو لوی رنځ او خطريانې د يو خپلواک افغانستان له ټوټې ټوټې کولو څخه ژغورلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# محمد ګل خان مومند
# او پښتونولي

پښتو نه یوازې زموږ د ژبې نوم دی، بلکې زموږ د کلتور او ټولنیز دود معنوي رمز هم په کې پروت دی، پښتانه په پښتو سره راټولېږي، په پښتو پرېکړه کوي او په پښتو لوړه.
ځینو د (پښتو ) له کلمې څخه، څو مانا وې راکښلي، چې دا مانا وې او خویونه په یوه پښتون کرکټر کې تجلا مومي. (پ)، د پت؛ (ښ)، د ښېګڼې؛ (ت)، د تورې؛ او (و) د وفا د ماناوو ښکارندويي کوي. که څه هم په یوه انسان کې د پښتو د بشپړو معنوي ارزښتونو د ټولو ځرکونو لیدل څه ګرانه خبره ده، خو ځینې داسې پښتانه هم شته، چې د یوه پښتون کرکټر بشپړې ځانګړنې په کې ځلېږي. یو له داسې پښتنو کرکټرونو څخه محمد ګل خان مومند دی. فکر کوم د محمد ګل خان مومند په فکر، احساس، عاطفې او روحیاتو کې چې د پښتو او پښتونولۍ څومره جذبې او ولولې جاري وې د ډېرو کمو پښتنو په روحیاتو کې که پښتو دومره ځای نیولی وي. محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګل خان مومند هغه شخصیت و ، چې پښتو یې ویلې، پښتو یې لیکلې او پښتو یې ترسره کړې ده.

محمد ګل خان مومند د پښتو او پښتونولۍ په باب یوه رساله هم لیکلې ده. د دې رسالې نوم دی ((لنډکۍ پښتو)). په دې رساله کې د محمد ګل خان مومند هغه افکار راټول شوي چې د پښتو او پښتونولۍ په باب یې لري.

(( مرحوم مومند په پښتو لیکلو او پښتو ویلو کې د سوچه والي کلک طرفدار و او د کوم څیز لپاره به یې چې په پښتو کې لغت بیاموند ، نو د پردي لغت استعمال ورته ادبي کفر ښکاریده. که به چا د ده پر وړاندې د پردۍ ژبې لغت استعمال کړ، ده به ورته ویل: ((وروکیه ! پوه نه شوم، څنګه؟)) څو چې به هغه سړی په خپله خپلې وینا ته ملتفت شو.)) (۱۴)

دلته به له پښتو او پښتونولۍ سره د محمد ګل خان مومند د اورنۍ مینې او افکارو یو لنډ جاج وړاندې کړو، وبه ګورو چې دې لوی پښتون له خپلې ژبې او پښتونولۍ سره څومره د زړه له تله سپېڅلې او روانې مینه درلودله. محمد ګل خان مومند وايي: (( پښتو ، پښتو منل، پښتو ویل، پښتو کول او پښتو چلول دي. پښتانه په پښتو سره پښتانه وو او په پښتو سره به پښتانه وي. پښتانه په پښتو چلېدلي وو او په پښتو به وچلېږي. پښتانه په پښتو پېژندل کېدل په پښتو به پېژندل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي او په پښتو به وپېژندل شي. پښتانه په خپل منځ کې هم په پښتو يو له بله سره پېژني په پښتو سره عزيزان او يو پر بل ګران دي.

د پښتنو خپلوي په پښتنو سره ده، خپل او پردي په پښتو سره ځرګند ېږي او بېلېږي. پښتانه په پښتو باندې سره يوهېږي، د پښتو خوږه مرکه په پښتو کېږي. پښتانه له پښتو نه خوند اخلي.

تر ټولو خوندوره مرکه د پښتو ده...

پښتو د پښتنو تفکرات، تخيلات، ذوق او هر څه سره يو شانته او يو کوي.

ـ پښتو خورا خوږه وروري ده.

ـ پښتو صله رحمي ده.

ـ پښتو شفقت دی.

ـ پښتو مرحمت دی.

ـ پښتو مهرباني ده.

ـ پښتو مروت دی.

ـ پښتو ښېګڼه ده.

کونډې، رنډې، يتيمان، بېوزلي او مسکينان، ړانده او ګوډ، په پښتو ساتل کېږي. که پښتو وه يو د بله خوښ، يو پر بل راضي، يو پر بل به ښاد يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پښتو نه وه یو د بله ناخوښه، یو د بل نه ناراضه او یو به هم پر بل ښاد نه شو. که پښتو وه زه به تا درنوم او ته به ما درنوې.

ـ پښتو اصیلتوب دی.
ـ پښتو سیالوالی دی.
ـ پښتو نجات دی.
ـ پښتو عزت دی.
ـ پښتو کې بې پتي، دګلتوب (حقارت) نه شته، ځکه چې پښتانه یې نه شي منلی.
ـ پښتو درونډوالی (وقار) دی.
ـ پښتو د پښتنو درنول دي.
ـ پښتو کې ټیټال او تملق نه شته.
ـ پښتو کې سپکه نه شته، نو ځکه سپک پښتون نه دی.
ـ پښتو شرافت دی.
ـ پښتو ښه نیت دی.
ـ پښتو د پښتنو او مسلمانانو خیر غوښتنه ده.
ـ پښتو ښه اخلاق دي.
ـ پښتو سپېڅلتوب (تهذیب) دی.
ـ پښتو تدبیر دی.
ـ پښتو سړیتوب دی او سړیتوب پښتو ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ پښتو انسانیت ته خدمت دی.

ـ پښتو قناعت دی.

ـ پښتو په حق درېدل دي.

ـ پښتو صبر دی.

ـ پښتو حوصله ده.

ـ پښتو هاند او کوښښ دی.

ـ پښتو دین، وطن او د پښتانه ولس ته خدمت دی.

ـ پښتو ایثار دی.

ـ پښتو فدا کاري ده.

ـ پښتو تکړه توب دی.

ـ پښتو غښتلتوب دی.

ـ پښتو کې خیانت نه شته.

ـ پښتو کې ټګي نه شته، ټګ پښتون نه دی.

ـ پښتو کې غلا نه شته.

ـ پښتو کې تالا نه شته.

ـ پښتو کې ظلم نه شته، ظلم بې پښتوالي دی.

ـ پښتو د مظلوم حمایه ده، په نیمې شپې کې له غره سره سم د پېښې ځي ته ځان رسول پښتو ده، غله، جاني او خاین نه چیغه ویستل او نیول یا یې وژل پښتو ده.

ـ پښتو صداقت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ پښتو پاک زړه دی.
ـ پښتو سلیم وجدان دی.
ـ پښتو روغه پوهه ده.
ـ پښتو ده چې پښتانه له بدو چارو ساتي.
ـ پښتو دوا ده.
ـ پښتو شفا ده.
ـ پښتو د پښتانه د زلمو ښکلا او د پېغلو ښایست دی.
ـ پښتو د پښتنو ګاڼه ده.
ـ پښتو پسول (زینت) دی.
ـ پښتو حیا ده.
ـ پښتو د پښتنو د نارینه وو پګړی او د ښځو ټیکری او پوړونی دی.
ـ پښتو عفت دی.
ـ پښتو عصمت دی.
ـ پښتو سمه عقیده ده.
ـ پښتو ایمانداري ده.
ـ پښتو پر مسلمانۍ ټینګېدل دي.
ـ پښتو پر ځان باور دی.
ـ پښتو ډوډیماري ده.
ـ جهل په پښتو ورکېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ علم په پښتو زده کېږي.
ـ زده کړه په پښتو کېږي.
ـ پښتو د علماوو مننه او احترام دی.
ـ پښتو پانګه (سرمایه) ده.
ـ پښتو کې د دواړو نړیو ګټې دي.
ـ پښتو ازادي ده.
ـ پښتو قوت دی.
ـ وطن په پښتو ژغورل کېږي.
ـ پښتو لوړ همت دی.
ـ پښتو توره ده.
ـ پښتو نارینتوب دی.
ـ پښتو تورزنتوب دی.
ـ پښتو د پښتنو هر ګوره کلک سنګر دی.
ـ پښتو لطف دی.
ـ پښتو قانون دی.
ـ پښتو انتظام دی.
ـ پښتو د سمو مشرانو مننه ده.
ـ پښتو د خاینو مشرانو رټنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ جنت پر اسلام باندې په پښتو کولو ګټل کېږي، حورې، غلمان او د جنت بې شمېره نعمتونه پښتنو ته په پښتو لاسته ورځي.

ـ پښتو د پښتنو د دوارو نړیو د سعادت ضامنه ده.

ـ پښتو د پښتنو د ټولنې روح دی.

ـ پښتو خو نو پښتو ده، پښتو ده.

ـ پښتو ده او پښتو (پښتونواله) ده.)) (**۱۵**)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## د محمد ګل خان مومند اثار

لکه څنګه چې مو دمخه وويل، محمد ګل خان مومند لکه د پښتنو د نورو مشرانو په شان هم د تورې، غيرت او مېړانې د شتمنۍ څښتن و او هم د قلم او ادب د معنوي پانګې خاوند او همدا دواړه يې د پښتو او پښتونولۍ د خدمت لپاره د يوې اغېزمنې وسيلې په توګه وکارول.

د محمد ګل خان مومند يو شمېر ليکنې او اثار تراوسه پورې د هېواد په ځينو مهالنيو خپرونو کې او ځينې يې هم په ځانګړي ډول خپاره شوي دي، موږ دلته د محمد ګل خان مومند ليکنې او اثار تر دوو ډلبنديو لاندې څېړو:

الف- په ژبنۍ او علمي برخه کې.

ب- په ادبي برخه کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الف- په ژبنۍ او علمي برخه کې:

د محمد ګل خان مومند د ليکوالۍ زياته برخه پر همدې ژبنۍ خوا څرخي، ځکه هغه وخت او حالات چې محمد ګل خان مومند په کې ژوند کاوه، داسې وو چې د پښتو ژبې د ګرامر په برخه کې کوم مهم اثر نه ترسترګو کېده. محمد ګل خان مومند دې نيمګړتيا ته متوجه شو او په دې برخه کې يې کار ته ملا وتړله. دی په ژبپوهنه کې د ځانګړي سبک خاوندو، چې هغه د کره، نږه او معياري پښتو ليکل او ويل وو، تر ده وروسته ځينو نورو پښتنو پوهانو هم همدا لار ونيوله چې کولای شو، د بېلګې په توګه د پوهاند مجاور احمد زيار نوم واخلو. پوهاند زيار د خپلو ډېرو نوښتونو ترڅنګ د محمد ګل خان مومند د ژبپوهنې له اندود څخه ګټه اخيستې ده.

دا دی دلته د محمد ګل خان مومند پر دې ډول اثارو لنډه رڼا اچوو:

### ۱- پښتو سيند:

دا د پښتو ژبې د لغتونو قاموس دی، چې محمد ګل خان مومند ليکلی او پر ۱۳۱۲ل کال په لويه قطع (د يوې تختې کاغذ په اندازه)، د ښوونې او روزنې وزارت له خوا د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی. د دې اثر د مخونو شمېر (۳۶۲) ته رسېږي او د ټوکونو شمېر يې دوه زره (۲۰۰۰) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اثر په پیل کې د پښتو د خاصو تورو او ځینو اوازونو په باب خبرې شوي او بیا په څلورو مخونو کې د اثر د لیکدود په باب بحث راغلی دی.

استاد زیار په خپل یوه اثر (( ویي پانګه )) کې لیکلي، چې د یوې ژبې د بډاینې او شتمنۍ لپاره یوه لاره دا ده، چې پخواني ویيونه (لغتونه) یې ذخیره شي او نوي لغتونه په کې جوړ شي.
محمدګل خان مومند وایي: (( د یوې ژبې ساتنه هم په دغه شان کېږي، چې د هغې ژبې لغات چې لکه د هغې خزانه ده وساتل شي تر څو چې د لغاتو د ورکېدو په سبب ژبه او د ژبې د ورکېدو په سبب ملت د ادبي فقر او نکبت په بلا ککړ نه شي او د مذلت په توره خاوره کېنني او نهایت نوم یې د روزګار د مخه ځنې ورک نه شي. )) (۱۲)

د ده په نظر که د ژبې لغت قید نه شي، هغې ژبې ته نور لغات داخلېږي او پردي کېږي، هر څوک چې د یوې ژبې د لغاتو قیدول غواړي باید په خپلو همځنګو، ګاونډیو او خپلوانو ژبو پوه وي، چې د نورو ژبو لغات د خپلې ژبې لغات ونه ګڼي او د خپلې هغه د نورو...

په (پښتو سیند ) کې د پښتو ژبې په سلګونو لغتونه ذخیره شوي، د هر لغت مانا او تفسیر یې په فارسي ژبه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲- د پښتو ژبې لياره:

پښتو ګرامر په برخه کې د محمد ګل خان مومند ډېر مهم اثر دی چې پر ۱۳۱۷کال د ساپي عبدالعظيم په اهتمام او ليک باندې په لاهور کې چاپ شوی دی، له سريزې پرته (۴۹۵ ) مخونه لري.

د اثر په پيل کې په (۱۴ ) مخونو کې په خپله د وزير صيب له خوا يوه علمي او ګټوره سريزه کښل شوې، په سريزه کې لومړی د يو ملت په ژوند کې د ژبې پر اهميت مفصلې خبرې شوي، وايي: ((د يوه ملت په ژبې کې هماغومره سياست، اقتصاد، اجتماعيات، ملي اخلاق، اداب، ملي عادات، ملي رسومات او عنعنات، ټول ملي خصايل او خصايص، حتی په ذهنيت، افکار، حسيات او مدنيت يې نفوذ مينده کوي او هماغومره د هغې ژبې د خاوندانو نامريي برى، د دغې بلې ژبې پر خاوندانو تامينوي... ) ) (۱۷ )

محمد ګل خان مومند ددې کتاب په کښلو کې له زياتو ستونزو سره مخامخ شوی دی، ځکه پر کوم مهال چې محمد ګل مومند ژوند کاوه د بېلابېلو عواملو له امله د پښتو کتابونو شمېر ډېر زيات نه وو. د ګرامر په برخه کې که د ګوتو په شمېر د ليکلو کتابونو نومونه واخيستلی شو. وزير صيب دې ټکي ته اشاره کړې ده، چې د پښتو ګرامر او قواعدو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه کې کتابونه نه دي ليکل شوي او که ليکل شوي هم وي د پردو له خوا ليکل شوي او د دا ډول اثارو ليکل د يو غرض له مخې و ، نه د پښتو د خدمت لپاره. دی د دا ډول يو اثر يادونه کوي، چې په اردو ژبه ليکل شوی و.

که څه هم پخوا ((پيرمحمد کاکړ د اتلسمې پېړۍ په نيمايي کې د (معرفة الافغاني) په نامه يوه ښوونيزه (تعليمي) ډوله پښويه کښلې، الماني ګيولډن شتيت تراوسه پورې لومړی ختيځ پوهاند برېښي چې تر پيرمحمد کاکړ څخه ۲۰-۲۵ کاله وروسته په خپل نوي فرهنګ کې د الماني ديګوري او اويستي وييونو ترڅنګ يې ۲۱۵ پښتو وييونه کښلي دي. پر ۱۲۲۱ل (۱۸۱۰م) کال د محمد ارتضاخان (د نواب امان الله خان زوی) چې فرهنګ ارتضايي نومي څلور ژبي (عربي، اردو، فارسي او پښتو) قاموس دی او پر همدغه کال د کلاپروت ګرامر هم د يادونې وړ دی.

پر ۱۲۲۸ل (۱۸۱۳م) کال د الله يار خان (د نواب محبت خان ورور) عجايب الغات او په هغه پسې (کتاب و خيالات زماني در لغت و زبان (افغاني). دغه راز د (امدنامهء افغانی) د کړګر پوهې (فعلي صرف) يو بل کتاب چې يو ويي ليک (لغتنامه) را اخلي، د نولسمې پېړۍ په سر کې کښل شوی ښکاري... دغه راز ګيورک مورګن ستيرن، ګايګر، جرمني پوهاند ايوالد ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

میجرلیچ، کپتان واګن، راورټي، هانري والتر، الماني ازنیست ترومپ، جیمز دارمستتر، روسي ختیځپوهاند تامانو ویچ لاریمر ) ) (۱۸) او داسې نورو پوهانو د پښتو ګرامر، ویي پوهنې، ویي پانګې ، قاموس لیکنې، آر پوهنې او نورو کې څېړنې او لیکنې کړي، خو دا لیکنې او څېړنې یا د یاد شویو لیکوالو په هېوادونو کې د هغو په ژبه خپرې شوي اویا د محمد ګل خان مومند د اثر ( د پښتو ژبې لیاره ) تر لیکلو وروسته خپرې شوي دي. نو په دې وجه محمد ګل خان مومند د خپل اثر دلیکلو پر وخت په پښتو ژبه کې د نورو ژبنیو اثارو له شتوالي څخه بې برخې و او بل دومره جامع ګرامر چې محمد ګل خان مومند ولیکه، تر ده دمخه چا نه و لیکلی او هغه کمی چې زموږ په ژبه کې د ګرامري اثارو د کمښت له کبله احساسېده د امکان تر حده یې دا کمښت له منځه یووړ.

محمد ګل خان مومند د خپلې سریزې په پای کې وایي: (( د دغه لامله چې زما په لاس کې اثار نه وو چې تنې څه ګټې اخیستې او استفادې کړي وای، نو ویلای شم چې د پښتو ژبې د لیارو او قواعدو په غونډولو کې ډېر ستړی شوی یم، ځکه چې ډېره لټېنه او پلټېنه یې غوښته. د دغه کتاب په ترتیب البته د پردیو ژبو د کتابونو نه استفادې شوې او په هغه ترتیب سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکل شوی، اما پوهان او علماء صاحبان پوهېږي، چې د ژبې لپاره (قواعد) څه د ترجمې کار نه دی، چې له بلې ژبې څخه ترجمه شي، کېدی شي چې زما تتبعات بشپړ نه وي یا څه رانه پاتې وي، نو ځکه زه به همدغه حکم نه کوم چې دغه کتاب غلطي او سهوه نه لري. هر ډول چې وي زه د پښتو او پښتنو پخوانی مین او خادم یم ځان مسعود بولم چې دغسې وخت کې څښتن تعالی جل وعلی شانه، ماته د دغه کتاب د تالیف توفیق راکړ. هیله کوم چې دغه کتاب د استفادې موجب هم وګرځي او د پښتنو او پښتو د شایقینو له خوا یو کوچنی چوپړ وګڼل شي.)) (۱۹)

ددې کتاب لومړی برخه صرف دی، چې دې کې د پښتو توري، د تورو ډولونه، ضوابط، خج، د تورو وتو ځي، نوم، د نومونو خاصیت، ډولونه، د نومونو اوښتنه، صفت، د صفت ډولونه. ضمیرونه، د ضمیرونو ډولونه، فعلونه، د فعلونو ډولونه او ادات راغلي دي.

دویمه برخه یې پښتو نحو ده، چې په دې برخه کې نیمګړي ترکیبونه، بشپړ ترکیبونه، اصلیه جمله، فرعیه جمله، مطلقه او مقیده جمله څېړل شوي دي.

د اثر درېیمه برخه مصادر دي، چې په هغې کې د پښتو (۱۵۲۲) بېلابېل مصادر معرفي شوي دي. د دې اثر په باب بل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادوني ورته کې دادی، چې د پښتو ژبې په نسبتاً پخوانې لیکدود لیکل شوی دی، چې اوس د پښتو ژبې په لیکدود کې یو لږ بدلونونه راغلي دي.

مثلاً د پښتو دغه توري (ډ ، ړ، ڼ،ټ) په کې په دې ډول لیکل شوي دي:

ډ = د تر (د ) څخه یې لږ غټ لیکي.

ړ = ر تر (ر) څخه یې لږ غټ لیکي.

ڼ = نر

ټ = ت

دغه راز د کلمو په ترڅو کې له اوسني لیکدود سره ډېر توپیر په کې لیدل کېږي، دا لاندې څو مثالونه یې د بېلګې په توګه وړاندې کوو:

| اوسنی لیکدود | د پښتو ژبې لیاره |
|---|---|
| کړی | کړه ی |
| لیدلای | لیدله ی |
| ستړی | ستړه ی |
| شوی | سوه ی |
| نیولای | نیوله یی |

او داسې نور مثالونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳- لنډکی پښتو او پښتونواله:

(لنډکی پښتو) د محمد ګل خان مومند هغه رساله ده، چې د مرحوم استاد عبدالروف بېنوا د هغې ګیلې په ځواب کې، چې له پښتنو مشرانو څخه یې کړې وه او پر ۱۳۲۷ل کال په کابل مجله کې خپره شوې وه، لیکل شوې ده او پر همدې کال د پښتو ټولنې له خوا خپره شوې ده. دغه راز استاد بېنوا دا رساله د اوسني لیکوال په دربیم ټوک کې هم د دربیم ځل لپاره خپره کړې ده.

د محمد ګل خان مومند د ځواب یوه برخه دلته راوړو:

((زما غښتلی ورور بېنوا صاحب!

زه ښه روغ نه یم، نو ځکه لیک او لوست زیار راپېښوي که ډېر ضرور نه وي نه یې کوم بې دغه سږ کال ختې مې هم درلودې چې درست کال د ورغومي د میاشتې ترسره پورې په هغو اخته وم. په ژمي کې ختې دربدلې وې او وزګارتیا وه، نو کله کله به مې د کابل مجلې را واخیستلې او ځو کرښې لیا کوم مضمون او مقاله به مې ولوستله، ځو ورځې مخکې مې په ۲۰۱ ګڼې کې د غښتلي غروال ((چې نوم او کام یې نه پېژنم)) د ځواب په ترخ کې زما او د ځینو نورو پښتنو نه ستا ګیله ولوستله. که څه هم ته حق لرې خو موږ معذور یو او زموږ عذرونه نه دي څرګند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما خو بې نورو معاذيرو يو عذر د صحت ورانوالی دی، که نه دغه خو ربتيا ده چې پښتو يوازې ستا ليا د څو کسو نه ده، پښتو د پښتنو نيکونو نه راپاتې ميراث دی، چې په دغه کې درست پښتانه برخه لري او درست پښتانه بشپړه گټه تنې اخيستلای شي، خو وېشلای يې نه شي... د پښتو تشريح چې د انساني، اسلامي او پښتني فضايلو بيان دی او د پخوانو پښتنو د اخلاقو، ادابو، عاداتو، دود او دستور او د ژوندانه د ډول او رواج ښوونه ده حقيقتاً خورا گران کار دی او د هرچا د لاسه نه دي پوره، لکه چې متل دی چې (پښتو چا ترسره کړې نه ده) همدغسې چا بشپړه څرگنده کړې هم نه ده...)) (۲۰)

په لنډکې پښتو او پښتونواله نومي اثر کې د ژبې، پښتو او پښتونوالې په باب د وزيرصيب درانه افکار ځلېدلي دي. دی په دې اثر کې د پښتو او پښتونولۍ هر اړخيز او جامع تصوير او تعريف وړاندې کوي، د يوه پښتون کرکټر ځانگړنې بيانوي او پښتو او پښتونولي د يوه مقدس، لوړ او پراخ قانون او ائين په توگه موږ ته راپېژني.

**۴- روزنه:**

د وزيرصيب محمد گل خان مومند بل اثر دی، چې تراوسه پورې چاپ شوی نه دی. مرحوم استاد بېنوا د (اوسني

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکوال) په درېیم ټوک کې د دې اثر یادونه کړې، خو د ځرنګوالي په باب یې څه نه دي ویلي.

## ۵- پخلی:

پخلی د محمد ګل خان مومند بل اثر دی، چې استاد بېنوا یې هم یادونه کړې، خو د ځرنګوالي په باب یې څه نه دي ویلي. دغه راز د اصلاح ورځپاڼې د ۲۸/۵/۱۳۴۳ ل کال په ګڼې کې هم د دې کتاب یادونه شوې، خو په تفصیل سره پرې څه نه دي لیکل شوي.

## ۶- پښتني تربیه:

پښتني تربیه هم د وزیر صیب محمد ګل خان مومند یو بل اثر بلل شوی، چې د اصلاح ورځپاڼې په ۲۸/۵/۱۳۴۳ل کال په ګڼه کې یې یادونه شوې، خو په تفصیل یې پرې څه نه دي لیکلي.

## ۷- پخواني ملي او ادبي اصطلاحات:

د اصلاح ورځپاڼې د ۲۸/۵/۱۳۴۳ل کال نېټې د ګڼې له مخې د محمد ګل خان مومند یو بل اثر دی، چې چاپ شوی نه دی او د قلمي نسخې په توګه په دې اثر کې پخواني ملي او ادبي اصطلاحات راغلي دي. د دغه اثر په باب باید ووایم، چې د غزني یوه روښنفکره او سېد ونکي (غلام جیلاني خان) ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل: (( زموږ د ځوانۍ شپې ورځې وې، نو موږ به څو تنه روښفنکره ځوانان وخت پر وخت د بابا لیدو ته ورتلو، د هغه د ژوند وروستي کلونه وو، یوه ورځ یې موږ ته وویل، چې ما د متلونو او د پښتنو د پخو خبرو په باب یو کتاب راپیل کړی، په دې کې مې یو شمېر متلونه راټول کړي دي. )) نو زما په ګومان کېدی شي ( پخواني ملي او ادبي اصطلاحات ) د وزیر صیب محمد ګل خان مومند همدغه اثر وي، چې پورته مو یادونه وکړه.

ددغو یاد شویو اثارو (روزنه، پخلی، پښتني تربیه او پخواني ملي او ادبي اصطلاحات ) قلمي نسخې اوس زما په واک کې نه شته، چې د نوموړو اثارو د څرنګوالي په باب بشپړې څرګندونې وکړم. خو ( زموږ غازیان ) اثر د ښاغلي مولف محمد ولي زلمي په قول: (( د محمد ګل خان مومند یو وراره محمد پتنګ نومېده، چې د ده تر مړینې وروسته یې د ده د ځینو اثارو په خپرولو کې توجه کوله. )) (۲۱) نو شاید د نوموړو اثارو قلمي نسخې هم له نوموړي سره خوندي وي.

دغه راز د وزیر صیب محمد ګل خان مومند دوه لیکنې چې د ده په خپل لاس کښل شوي، د هېواد له نومیالي محقق حبیب الله رفیع سره موجودې دي چې تراوسه چاپ شوي نه دي.

دا لیکنې هم د وزیر صیب د متفرقه لیکنو له جملې څخه دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱- سیمه:** د ګډ هېواد او خصوصاً د پښتنو د هېواد د ساتنې او ګډ مدافعیت په اړه مطالب لري.

**۲- مېلمستوب:** مېلمستیا او بلنه ده، په مېلمستیا عمومي بحث او دا چې پښتانه په مېلمستیا کې د بر یپا وړي دي خصوصي بحث کوي.

**۳- ټوکې:** په دې مضمون کې ټوکې په جایزو او ناجایزو برخو وېشي، جایزې له اسلامي او پښتني ادابو مخالفې نه بولي او ناجایزې له داړو سره مخالفې ګڼي.

## ب- په ادبي برخه کې:

د محمد ګل خان مومند د ژوند زیاته برخه او ورځنۍ چارې د دولت پر اداري کارونو، پر پښتو پالنې د نوي پښنت پر روزنې او د مهمو ژبنیو علمي اثارو پر لیکلو تېر شوی، تراوسه پورې چا د محمد ګل خان مومند د ځانګړو تخلیقي ادبي اثارو په باب څه نه دي لیکلي، خو د شعرونو پخې ببلګې یې په لاس کې شته، د هغو د څرنګوالي له مخې ویلی شو، چې محمد ګل خان مومند د شاعرۍ د اوچتې قریحې او لوړ استعداد خاوند و او ښایسته ډېر شعرونه به یې لیکلي وي. دلته یې لومړی د ببلګې په توګه یو ټوټه شعر راوړم او بیا به پرې لنډې خبرې وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتونواله

نیکه پلار مې پښتانه وو یم پښتون
زمری یم، زمرزی یم، زمربون
زه پښتون یمه ښکاره یم لکه لمر
و غلیم ته تل ولاړ یم لکه غر
ما ته ورځ د ننداري ده ورځ د جنګ
ورته درومم په اتڼ او په غورځنګ
د غورځي غرونه زما لکه ثنا
برېښېده د توري زما لکه برېښنا
د زمري په څېر غورځی کړمه غړمبېږم
لوړ لوړ غرونه لکه توی غوندي بهېږم
پر غلیم باندي چي راشي زما وار
اسماني تندر به وي زما ګوزار
زه پښتون یمه پښتو باندي څرګند
که دا نه وي زه به یمه خوشي شند
پاتي مړې مې له پلاره ده پښتو
ده پښتو او پښتونواله د پښتو
پښتو زده کړه ده د علم او کمال
پښتونواله ده ښه توره او ښه ډال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښــه خو يو نـــه د يانــت مــو ده پښــــتو
ښـــــه دو دو نــــــه او اداب د پښــــــتنو
پښــــــتو نو اله پښــــــتانه هو ســــــوي
پښــــتو نو اله پښــــتانه بـــه لـــو ړوي
پــه پښــتو بانــدې وطــن ګټلــی شــوی
پــه پښــتو بانــدې وطــن ســاتلی شــوی
هــم بــه بيــا وي پــه پښــتو بانــدې ګټــل
هــم بــه بيــا وي پــه پښتو بانــدې ســاتل
پښــتو کړمــه، پښــتو وايمــه زه تــل
ده لالـــی زمـــا پښـــتو نـــه لـــرم بـــل
سر او مــال مــې دواړه جــار دي تــر پښــتو
ژونــد او مړينــه مــې نثــار دي تــر پښــتو
پښــتانه کــه د پښــتو پــر لــورو ځــي
دا نــړۍ او هــا نــړۍ کــې دي خونــدي
پښــــتانه او پښــــتونو اله دې وي تــــل
له پخوا نه يو پــه لس او يو پــه سل (۲۲)

که موږ د وزير صيب دې شعر او ځينو نورو شعرونو ته پــه ژور نظر وګورو، نو وينو چې د ده پــه شعرونو کې هم د پښــتو پــالنې، هېواد پــالنې او پر ځان باندې د باور پيــاوړې روحيــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدل کېږي. دی د یوه پښتون په توګه د دښمنانو پر ضد جنګ ته د زمري په څېر ورد رومي، لکه خوشال بابا غوندې د غره په شان ورته په مخ کې ودرېږي او لکه امیر کروړ جهان پهلوان د جنګ په میدان کې خپله توره چلوي. خپله خپلواکي له چانه په زاریو او خیرات نه غواړي او دا لوی نعمت د تورې او ډال په واسطه خپلوي. هغه لکه یو دردمن مین له پښتو سره مینه لري، پر پښتو مین دی، هغه د پښتو ژوند لوی نعمت ګڼي او دا کار د زړه له کومي کوي، د تجمل او سینګار لپاره یې نه غواړي. هغه پښتو یو ټولنیز قانون بولي او لارویان او عملي کوونکي یې د زغم او اتلولۍ خاوندان. په شعرونو کې یې (که د همغه وخت د شعرونو په پرتله) یې په پام کې ونیسو، هنریت، جذابیت، تبحر، روانتیا او ساده ګي لیدل کېږي او په زیاتو سوچه پښتو کلمو یې پوښلي او ښکلي کړي دي. تر ډېره حده یې د نورو ژبو د کلمو له راوړلو څخه ډډه کړې ده.

په لنډ ډول ویلی شو، چې شعرونه یې په شکلي (جولیز) لحاظ، ساده، عام فهمه او د پښتو په ځانګړو وییونو ښکلي کړای شوي دي او په محتوایي لحاظ یې، پښتو، پښتونولي، هېواد پالنه او ملت پالنه د شعرونو مرکزي فکر جوړوي.

د کمیت له پلوه د وزیر صیب د شعرونو په باب دومره ویلای شو، سره له دې چې په مستقل ډول دده د شعرونو کومه ټولګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تراوسه نه ده چاپ شوي خو د شعرونو له قوت، د شعر پر ارکانو له حاکمیت او د شعر له نورو بېلګو څخه یې څرګندېږي چې د شعرونو ځانګړې مجموعه یا مجموعې به یې درلودلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریېم څپرکی

## محمد ګل خان مومند
## د نورو له نظره

محمد ګل خان مومند د پښتني تاریخ یو داسې شخصیت دی، چې د ځینو نورو پښتنو مشرانو په څېر یې شخصیت له ځو بعدونو څخه جوړ دی، هغه که له یوې خوا ښه پوځي و، نو له بلې خوا ښه ادیب او لیکوال هم و، هغه که له یوې خوا ښه سیاستوال و، نو د ملي مشرتوب، جرګه ماري او مرکې د ځواک وړانګې هم په کې ځلېدې. د محمد ګل خان مومند د شخصیت ژوند او اثارو په باب یو شمېر بهرنیو او کورنیو لیکوالو څه ناڅه لیکنې کړي دي، خو دا لیکنې دومره جامع او زیاتې نه دي، چې د وزیر صیب د شخصیت او اندو ژوند پوره جاج دې ترې واخیستل شي. خو په ولس او زموږ د خلکو په زړونو او فکرونو کې د هغه په باب ډېر څه شته، کیسې شته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

روایتونه شته، نکلونه شته، یادونه، خاطرې او د ډېرې نورې نا لیکلې خبرې.

د بهرنیو پوهانو له ډلې څخه ډاکټر پیچکا چکوسلواکیایي د محمد ګل خان مومند یادونه کوي، هغه د پښتو یو لوی عالم بولي او په خپل اثر ((پښتو خجخښړنه)) کې د محمد ګل خان مومند له اثارو څخه ګټه اخلي.

استاد عبدالروف بېنوا هغه د پښتنو د یو مشر او مبتکر لیکوال په توګه راپېژني او په ((اوسني لیکوال)) کې یې پېژندنه داسې کوي: ((خو دلته دی د وزیر یا رئیس په حیث نه معرفي کوو، بلکې ده ته د پښتنو، پښتو او پښتونولۍ د یوه لوی مشر او مبتکر لیکوال په نظر ګورو. مبتکر یې ځکه بولو، چې ده د پښتو ژبې د لیکنې او ګرامر لپاره له ځانه د تورو نوي شکلونه او نوي تعبیرونه منځته را ایستلي وو، چې د ده ځینې اثار په همغو اشکالو او تعبیرونو چاپ شوي هم دي.)) (۲۳)

((پښتونستان)) نومي اثر لیکوال، عبدالمنان دردمند یې د پښتنو د نومیالي مشر په توګه راپېژني. د ((زمونږ غازیان)) مولف محمد ولي زلمی یې د ملي مشر، ستر خدمتګار، د پښتو ژبې د پالونکي او غازي په توګه معرفي کوي.

استاد محمد اصف صمیم یې د یو بشپړ پښتون کرکټر او د خپلو ایډیالونو د اتل (زما اتل) په توګه راپېژني او همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور لیکوال یې په نورو درنو نومونو او القابو یادوي. خو څرنګه چې په عمومي ډول افغاني ټولنه له لیک لوست څخه بې برخې ده، نو هغومره چې زموږ د اتلانو په باب زموږ د خلکو په زړونو او فکرونو کې یادونه پراته دي، هغومره نه دي لیکل شوي، ډېر داسې یادونه او خاطرې زموږ د ګړنۍ (شفاهي ادب) برخه ګرځېدلي دي. په عوامو کې محمد ګل خان مومند ته د ((بابا)) او ((دادا)) لقبونه ورکړل شوي او دا هغه لقبونه دي، چې پښتني ولس یې خپلو مشرانو او خدمتګارانو ته د هغو د لویو قربانیو په بدل کې ورکوي او هرڅوک ((بابا)) او ((دادا)) کېدی نه شي.

د محمد ګل خان مومند په باب زموږ د هېواد له یو زیات شمېر روښاندانو، ټولنیزو شخصیتونو، قومي مشرانو او ولسي خلکو سره ډېر یادونه، روایتونه او حکایتونه شته، چې د ټولو بیان یې اوس زموږ د دې لیکنې له حوصلې څخه وځي. یوازې د هېواد د هغو څو تنو لیکوالو او مخورو نظرونه به دلته راوړم، چې ما ورسره د هېواد په اوسنیو کړکېچنو شرایطو کې ولیدل او د هغو نظرونه مې راواخیستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ((د قام غمخور محمد ګل خان مومند ))

((که څو تنه خانان، زمینداران، سوداګر او درباریان څنې وباسو نور نو د پښتنو ژوند سترې ژوند دی او دا سترې ژوند د دوی د ژوندانه د خرابو شرطونو زېږنده ده.
ددې کم بختـه سـترې او سـرګردان قـام سـارا شـین تراوسـه پورې لالهانده کوچیانی ژوند لري، نن دلتـه سبا هلتـه- چېرې چې یې ښـه، هلتـه یې شـپه- عمرونـه یې پـه کـوچ وبـار کې تېر شول، پـه کېږدۍ کې زېږي، پـه کېږدۍ کې لوېږي او پـه کېږدۍ کې مري، اویا کلن زاړه او برنې لنګې پلي پـه اوښو پسې منډې وهي او پـه هر شـواخون چې وي ځانونه مزله تـه رسوي، تراوسـه پورې لا دا اسکېرلي تاکلی وطن نه لري او نه یې تاکلې هدیره پـه نامه ده، د یوې کورنۍ پـلار کـه د بابـا غـره پـه لمنو کې ښـخ وي، کبدی شي چې د دغې کورنۍ مور د اباسین پـه غـاړو کې خاورو تـه سپارل شوې وي.

سره له دې چې ویل کېږي پاچهي د دوی د قـام (پښـتنو) ده، خو دوی تراوسه پورې لا د کور، کلا او بـاغ و پټي څښـتنان نـه شول او د پښو تناکې یې ورکې خو څه حتی لرې نه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی د رمو او ټَوو ُد ژغورنې لپاره لـه خونخـورو لېوانـو سـره خپړې لګوي او د ځانونو او اولادونو د ساتنې لپاره له سرکښو اقليمي توپانونو سره ډغرې وهي، کله يې سېلونه کېږدۍ وړي او کله يې مالونه، کله يې ټکې پر رمو او ټَوو ُلـوېږي او کلـه يـې پر کليو او کېږديو.

وړۍ چې د دوی تر ټولو غټ عايد دی، خدای ناترسو ښـاري سوداګرو سـترګې ورتـه ډمـارلې دي، د سـکول پـه وخـت کـې د کوچيانو لارې نيسي او وړۍ پـه نيمه بيـه ځنې ترلاسـه کـوي، د ښارونو خلک د دوی د مـالونو پـه غوښـو او غـوړو اربـوده دي، خـو دوی پـه تـروو او پيـاوو ګېـډې مـړوي، د اروا ښـاد مولانـا سيقي په قول جامو ته دوی ځکه کالي وايي چې په کـال کـې کـه يـوه جـوړه ورميسـره شـوه، ځانونـه نېکمرغـه شـمېري، د ښـځو مـلاوې يـې مـاتې شـولې، چـې د لـرو ګـودرونـو يـا ژورو څهـانو څخه په ژيو او ګړيو کې اوبه راوړي.

هغـه پښـتانه چـې پـه کليـو کـې مېشـته دي او ديشـين بلـل کېږي، له څو تنو خانـانو او زميندارانو پرتـه نـور د کښـت و کـر لپـاره کـافي ځمکـې او ډېـری يـې حتـی ببخـي ځمکـې نـه لـري، ځينـې يـې د بـل بزګـرۍ او مـزدورۍ تـه اړ دي او ځينـې يـې پـه لمنو، څادرونو او بوجيو (بوريو ) کې خاورې د غرو لمنو تـه پـه څه ستونزو او سترياوو خېژوي، نـازولي زوزات او خواخوږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورسرې ورسره کار کوي او هلته پټې سازوي او د بارانو په هيلو ځو دانې تخمونه په کې پاشي، په کوم کال چې اسمان پر ونه رحمېږي او کافي بارانونه ونه شي، حاصل خو پرېږده تخم يې هم هدر ولاړ شي دا کم بخت او د خدای له نعمتونو څخه بې نصيب قام جوار ترخه کوي، چې لږ وخوړل شي، که څينې پښتانه واړه پټې ولري د تربرو سترګې پرې سرې وي، د پښتنو متل دی: (( د بل په لاس کې مړې غټه ايسي )) ، په لږه پلمه تربرونه يو د بل مرګ ژوبلې ته لېچې راوغزوي او يو د بل په مغزو ماتولو خپله باتوري ښکاره کوي، خوشال خان ختټک څه ښه ويلي دي:

پښتانه واړه بد خوی دي    کور په کور کاندي غورزی
يو چې سر کاندي لږ پورته    بل يې ووهي مغزی

يو تربور چې ووژل شي، بل تربور له کلي کډه په شا کړي، خپل هر څه پرېږدي د کسات له بېرې له خپل ولسه وتښتي او په نورو ولسونو کې پناه واخلي، د وژل شوي تربره ورونه او زامن ټوپک په لاس د خپل خوني دښمن په لټه کې وي او خوني تربور د خپل مرګ په انتظار کې وي پر سر يې توره ټوټه په اومږي سپنسي تړلې وي، جريب نيم ځمکه چې يې په کلي کې درلوده، هغه شاړه پاته شي او دی له خپلو اولادونو او ښځې سره در په در ګرځي، دا شوه تربورګلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتنو پېغلې د پلار پر کور زړېږي، ځوانان بې د ولوره او بابيرې توان نه لري، ځوانان زاړه شول خو د اولادو څښتنان نه شول، د چا چې بيا اولاد شته، هغه بېوزلي په لړه ناروغۍ د اخرت په سفر ځي، طبيب نه شته، روغتون نه شته، دوا نه شته، ځکه نو ناروغانو د علاج او دوا پرځای دم دعا او تاويزونو زيارتونو ته مخه کړې ده او د دوی په فکر د افسونونو په زور ځانونه او اولادونه د پيريانو له پټو حملو څخه ژغوري. کوم کوچنيان چې د ژوندانه په قافله کې د کوي، شري، تورې غاړې او داسې نورو ترغاښو اوړي د هغو بيا د ښوونې او روزنې لپاره مکتبونه نه شته، مدرسې نه شته، معلم نه شته، مدرس نه شته، کتاب نه لري او کاغذ و قلم نه پېژني.

له بده مرغه پښتانه له صنعته بد وړي، د دوی په ټولنه کې کسبکارو ته په کمه سترګه کتل کېږي، حتی سيالان يې نه ګڼي. دوی خو بانک نه پېژني او تجورې نه لري، پخوا به يې د سپينو سکې په ګړيو او منګيو کې تر خاورو لاندې ښخولې او س يې بيا برستنو کې ګنډي، لوټونه ښه نه پېژني، زياتره جعلي لوټونه پر دوی تېرېږي.

زياتره پښتانه په کوچيانو مېلو (مېنو ) کليو، بانډو کې زېږي، بې له دې چې د نورو ثقافت او مدنيت ووينې او يا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو څخه څه د ځان کړي، مري، ځکه نو د دوی کوچیانی او کلیوالي ثقافت هغه د شلو پښتو وړاندې ثقافت دی او نوښت په کې په اسانۍ سره ځای نه دی پیدا کړی، دا وو کوچي او کلیوالي پښتانه.

اوس به راشو ښاري پښتنو ته:

څومره چې کوچي او کلیوالي پښتانه پر خپل ثقافت ټینګ دي، هغومره ښاري پښتانه د خپل ثقافت په خوندي کولو کې سست او بې پروا دي، په تېره بیا په ګډوله ښارونو کې، چې هلته نور قامونه هم د دوی په څنګ کې پراته وي، ښاري پښتانه ډېر ژر د پردیو تهذیبونو او ثقافتونو پیروي کوي او خپل ارثي ثقافت او په تېره بیا ژبه د نا پښتنو ګاونډیو په څنګ کې خورا ژر له لاسه ورکوي، له نورو قامونو سره چې د دوستي او خپلۍ وکړي، د هغو دود و دستور چټک مني، له کلیوالو پښتنو سره یې اړیکي که ونه شلېږي سستېږي خو هرومرو، متین خان اندړ راته وویل: یو وخت زه د کابل په چاردهي کې جبارخان کلا ته ولاړم، چې له رئیس تمیز عبدالرب خان اندړ سره ووینم، کلا ته نژدې د ده زوی په مخه راغی د پلار پوښتنه مې ځنې وکړله، ده راته وویل: (او کتی قومایش در مهمانخانه ششته))

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې وګورئ د پلار قوميان د ده قوميان نه شول، ځکه چې هغه په پښتو خبرې کوي، دی پارسي وايي او په پښتو نه پوهېږي يا يې نه وايي، ده دريشي اغوستې ده او هغو خپل پښتني کالي، هغو پګړۍ تړلي دي او دی لوڅ سر دی.

په ګډوله ښارونو لکه کابل او هرات کې اوسېدونکي پښتانه د دغې اثر پذيرۍ او انفعال ښې نمونې دي، په دغو ښارونو کې چې له لسو تنو سره وپېژنئ، ښځه به يې هرومرو درته ووايي: (( مه هم اوغان استم )) او که داسې ادعا د ځان په باب ونه کړي دا خو هرومرو درته وايي چې انا مې پښتنه وه، يو وخت زه په لينګراد کې وم، د ختيځ پېژندنې له پوهنځي څخه تليفون راته وشو: (( يو ډاکټر د عالي تحصيلاتو په نيامت له افغانستان (کابل) څخه دغه اوس رارسېدلی او ستا په لټه کی دی )) ما چې په ټليفون کې له هغه نوي مېلمه سره خبرې وکړلې ومې نه پېژانده، خو د وطنداري په خاطر مې ورته وويل: (( دغه دی دستي دررسېږم زما لاره څاره )) - زه چې پوهنځي ته ورغلم له نوي راغلي وطندار مېلمه سره مې روغبړ وکړ، اب شي ژيت (ليليې) ته مې بوت، ځای مې ورونيوه، ښاغلی ډاکټر... چې خدای په اماني راسره کوله، تر کور ودانۍ ويلو وروسته يې دا هم راته وويل: ((مادر کلان مه نورزايي بود ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفکر محمد ګل خان مومند (۱۳۰۳هـ ق زوکړی) د خپلې زمانې یو باخبره، پوه او ځیرک منصبدار و، له اګاهۍ، پوهې او ځیرکتیا سره یې د قام درد او خواخوږي هم درلوده او د پښتنو دغو بدو ورځو ته ښه ځیر و، ده د بړې شپې د پښتنو د غمخورۍ په فکر کې سبا کړلې او د بړې ورځې د قام په غم کې لالهانده کرهرانده پرې تېرې شولې، پای ته یې وپتېیله هر راز چې کېږي د کم بختو پښتنو د ثقافتي پرمختګ، سیاسي ویښتابه او اقتصادي نظم هر کار ته به هرومرو وردانګي او څو یې وسه رسي د قام ماته بېړۍ به د ژغورنې غاړې ته پورې وهي، هر څوک د هر کار تر عهدې نه شي وتلای، سترو کارونو ته ستر همتونه په کار دي، دا مفکر او هوډیالی محمد ګل خان مومند و، چې د قام ماتې بېړۍ ته یې اوږه ورکړله (خو افسوس چې تر غاړې ونه رسېدله) او خپل توان او قدرت یې د دوی فرهنګي او اقتصادي ودې ته وقف کړ.

ده په فرهنګي برخه کې د قام ژبې (پښتو) ته توجه وکړله، تر ټولو دمخه یې په ۱۳۱۱ل کال کې هغه وخت چې دی د دغه ولایت رئیس تنظیمه و پښتو انجمن جوړ کړ، د کندهار جریده (طلوع افغان) یې درسته پښتو کړه، په خپله یې قلم راواخیست پښتو سیند (د ۱۳۱۲ل چاپ) یې ولیکه، چې تر ثلورو زرو زیات پښتو لغتونه په کې معنا شوي دي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرفونو (تورو ) حرکات و سکنات يې په مخففاتو ښوولي دي، د مصدرونو په برخه کې يې اشتقاقي تفصيلات هم شته يعنې د زمانو په لحاظ يې د صيغو اشتقاق ته هم اشارې کړې دي.

د مفکر محمد گل خان بله مولفه د پښتو ژبې لياره (د ۱۳۱۷ چاپ) نومېږي چې د پښتو ژبې صرف ونحو، يې په کې څېړلې ده، د دغه کتاب په دريمه برخه کې يې ۱۵۲۲ مصدرونه د شاونديو ، al,edal,wal,kawal د وېش له مخې راوړي دي، د دغې برخې يوه ښېگڼه دا ده چې د هر مصدر، متمم مصدر يې (که په ژبه کې وي) هم راوړی دی لکه له ((ليدل) سره ((وينل)) او له ((کتل)) سره ((گورل)) او داسې نور...

مفکر محمد گل خان د دغو دواړو کتابونو په ليکدود کې هم نوښتونه لري مثلاً: ټ يې ت، ج يې ح [1] - ډ يې د ، ړ يې ر، ڼ يې نړ ليکلی دی او د کلمې په منځ کې زور يې په (ه) ښوولی دی، لکه سرہ ی (سړی) کتهوره ی (کټوری) او داسې نور..

د ماموريت په وخت کې چې به مفکر محمد گل خان په هر ځای کې و هلته به د پښتو ژبې او ادب د پوهانو انجمن جوړ و ،

(۱) د (ج)) لپاره د (ح)) شکل تر محمد گل خان مومند دمخه هم کارول شوی دی (و گ. د ايچ. رتن چند کندهاري رهنمای پښتو چې پر ۱۸۹۲ع کال په کوټه (کويټه) کې چاپ شوی دی) ما چې د کابل چاپ خيرالبيان د مقدمو په برخه کې (۷۴مخ) ((ح)) شکل د وزير محمد گل خان مومند ايجاد بللی دی، سهي خبره نه ده هغه وخت ما د رتن چند کندهاري رهنمای پښتو نه وه ليدلې. (رشاد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده به پښتو پوهان تشویقول چې په خپلو اثارو ، پښتو ژبه غني کړي- کتابونه ولیکي، لغتونه راټول کړي او د پښتو ګرامر وڅېړي، ده غوښته چې پښتنو کوچنیانو ته دې تعلیم په پښتو ژبه وشي، ولې چې په بله ژبه کې تعلیم او تحصیل د شاګرد ډېر وخت نیسي او پر ذهن یې درونوالی زیاتوي.

مفکر محمد ګل خان د پښتونوالي پر مثبتو رواجونو ټینګ و او نور پښتانه یې هم د پښتونوالي د ګټورو دودونو باندې ټینګار ته تشویقول، له دروه و درغل، درواغو او غوره مالۍ څخه یې ډېر بد وړل او ویل به یې دا عادتونه او خصلتونه نه یوازې د دین له پلوه غندل شوي دي، بلکې په پښتونواله کې هم دغو خصلتونو ته د کرکې او نفرت په سترګه کتل کېږي او د پښتني فضایلو له منځه وړونکي دي. ده چې په خپل ژوند کې څومره سیاسي تقوی، پاک نفسي او له قام سره خواخوږي درلوده له نورو خلکو څخه یې هم د دغو فضایلو هیله درلوده او خلک به یې دغو چارو ته تشویقول. وزیر صاحب محمد ګل خان خورا صریح اللهجه او پر حق ټینګ سړی و ، علي احمد خان((والي)) چې په ننګرهار کې د پاچهي اعلان وکړ، ده په څرګند ډول له دغه اعلان سره مخالفت وکړ، هر څه ایرادونه او تهدیدونه چې ورکړل شوه له خپلې هوډې څخه نه واوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مفکر محمد گل خان پام د قام د ځوانانو د تربيې په څنګ کې د قام اقتصادي بهبود ته هم اوښتی و ، د هندوکش په شمال کې ډېرې سرکاري ځمکې خورا شاړې پرتې وې او به بېکارې بهېدلې او شاړې ځمکې ځنګلونه کېدل، د سيمې خلکو د کرنې په کار کې ځانونه ډېر نه زهيرول، د للمې لپاره ډېر دښتونه او راغونه د دوی په واک کې وو فقط يوې او تخم يې له دوی څخه غوښت، نور به نو اقليمي شرايطو (موسمي بارانونو ) کښتونه ورپخول، په پراخو دښتو او ويرو راغو د سيمې د خلکو وس نه رسېده چې ټول وکري او حاصل ترې واخلي، خو په افغانستان کې ځينې سيمې په تېره بيا د پښتنو ټاټوبي داسې وو چې غلو دانو يې د سيمې خلک نه شوای مړولای، ځمکې نه وې چې وکرلې شي، د سيمې خلک به دې ته اړ وو چې د مزدوريو لپاره د هندوستان لټو ته ولاړ شي او غنم و جوار له هندوستانه راوړي.

مفکر محمدګل خان دغه بې ځمکې خلک او کوچيان په منتونو په زاريو زواوو وروبلل او بې خاونده ځمکې يې د هندوکش په شمال کې پر وېشلې، ده په دې کړو د هندوکش د شمالي برخو ډېرې بې خاونده او بې حاصله ځمکې حاصل خېزې کړلې او د وطن بېکاران يې په کار واچول، د نورو له مزدوريو يې راوګرځول او د خپل ملک په ودانۍ يې اخته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل، د ملک حاصلات یې زیات کړل او وړې سیمې یې د خپل ملک په حاصلاتو مړې کړلې.

مفکر محمد گل خان د قره قلي پوستکو انحصاري سوداګري د جهودانو له لاسه وکښله، د سیمې خلک یې تجارت ته تشویق کړل، د ((رښتیا)) او ((یووالي)) په نومونو یې په مزارشریف او بلخ کې شرکتونه جوړ کړل چې وروسته دغه شرکتونه په خپلو سوداګریو کې ډېر پرمخ ولاړل او د ښو پانګو څښتنان شول.

د رسمي ماموریت ترختمېدلو وروسته هم د محمد گل خان ټاټوبی د پښتو ژبې او ادب د پوهانو او هوا خواهانو ټولنځی و. مفکر محمد گل خان تر مرګه پورې (۱۳۸۳هـ ق) د پښتنو د بهبود چرتونه وهل.

زما ښه یاد دي د افغانستان د خپلواکۍ د بیا اخیستلو څلوېښتمه کالیزه وه، فخر افغان (عبدالغفارخان) هم کابل ته راغلی و، په بابر باغ کې د خوشال لېسې او رحمان لېسې ځلمیو شاګردانو رسم ګذشت ورته وکړ، تر رسم ګذشت وروسته اتڼونه پیل شول د شاه جوی د خروټیو اتڼ چیان هم راغلي وو. دوی چې اتڼ کاوه رنګه دسمالونه یې په لاس کې وو او هغه به یې د اتڼ له حرکتونو سره سم ښورول، قام پال محمد گل خان مومند چې د فخر افغان پاچاخان ترڅنګ ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library

و، د خروټیو د اتڼ دغه خصوصیت یې خوښ نه شو، ناڅاپه ودرېد او خپله لکړه یې د اتڼ له حرکاتو سره سمه د توري په دود ښوروله او څرخوله، خروټیو اتڼ چیانو ته یې وررېغ کړ: ((وغورځوئ دا د تور سرو څپوښې (د سمالونه)، ستاسې پلرونو او نیکونو په اتڼ کې توري ګرځولې او تاسې د ښځو په شان څپوښې ښوروئ.))

وزیر صاحب محمد ګل خان په دغو کلو کې د ګوزڼ په ناروغۍ مبتلا و، پښو یې ښه ملګري نه ورسره کوله، خو بیا هم له دغې ناروغۍ سره یې له تورو سره د اتڼ حرکتونه د پښتنو ځوانانو د روزنې په خاطر تمثیل کړل.

محمد ګل خان او پاچا خان دواړه اوس په مړو کې نه شته (خدای دې دواړه وبخښي) د پښتنو لښکر، بې قافلې شوی دی او قافله هم سالار نه لري، زه ګومان کوم، د دې بې سالارې قافلې خطرناکې اینديې ته به دغه دواړه لارښوونکي مشران(رح) هېښ پاته وي او په ډېر حسرت به دغو پر شلو لارو روانو پښتنو ته ګوري.)) (۲۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ((زما یادښت))

((د نړۍ هر ولس که د انساني فرهنګ له پلوه ډېر وروسته پاتې هم وي، یو سرغنه او مشر، یا په بله وینا ، یو لارښود او سمونوال لري او دا مشري او سرغندویي ان تر دولتي اډانې هم رارسېږي چې د قانون په چوکاټ کې د خپل ټبر او ولس د ښېګڼې لپاره هلې ځلې کوي. بده مرغه ټولنه به هغه وي، چې په یوه ټاکلي چاپېریال کې د ځینو لاملونو له کبله له دغسې یوه لارښود او سرغندویه بې برخې پاتې شي او ورسره ورسره پرې یو زورواک دولت واک چلوي، لکه همدا نن سبا پر افغاني ټولنه باندې.

په روانه پېړۍ کې پښتون ولس دوه پیاوړي مشران لرل، په لره پښتونخوا کې پاچاخان (عبدالغفار خان) او په بره کې مومند بابا (محمدګل خان مومند). دوی هر یوه په خپله خپله برخه کې د پښتنو د مشرتابه نقش پر غاړه درلودلی او لکه څنګه چې ښایي، په پوره مخسوري یې دغه نقش لوبولی دی.

په ښکاره خو داسې برېښي چې د پاچا خان رول سیاسي و او د مومند بابا فرهنګي، مګر که په ځیر سره وکتل شي، د دواړو د هلو ځلو پېره زیاته فرهنګي وه که د پاچاخان د خدایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمتگار غورځنګ د سیاسي ویښتابه توله یو څه درنه وه خو فرهنګي هغه یې هم دومره سپکه نه وه او د مومند بابا فرهنګي او بیا په ځانګړې توګه د پښتو ژبې غورځنګ خو بره خوا هر پښتانه بچي ته جوت دی. مومند له اماني پېره بیا تر نادر، ظاهري پېره یو پیاوړی پوځي بولندوی پاتې شوی او په همدغه واک و ځواک یې پښتو ژبه د یوه ملي پېژند نښې او سمبول په توګه پر افغان دولت او حکومت منلې او هغه یې له نورو نړیوالو ژبو سره د سیالۍ جوګه کړې ده.

د محمد ګل خان مومند (وزیرصاحب، مومند بابا) له نامه سره یوه داسې پرتمینه پښتني تاریخي څېره سترګو ته نېغه درېږي، چې د پښتني، یا په بله وینا، افغاني فرهنګ وروستی او یا کلن څپرکی ورسره نه شلېدونکي اړیکي لري. ده له ټولنیز (عام، نړیوال دیموکراټیک دود سره سم د ((ډېرښت)) آر او اصل پر بنسټ د افغاني ټولنې ملي وکړ (هویت) په پښتني هغه کې لیده او پر همدې بنسټ یې پښتو، پښتونولي او پښتون او بیا ټینګه او سپېڅلې خو پراخ لیده اسلامي ګروهه ددغه ملي وکړ ټاکندہ پېژند نښې ګڼلې.

ددغه ډیموکراټیک آر له مخې ورته ټولیز افغاني کولتور له پښتني فرهنګ پرته نور څه کېدی نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دغې لیارې انګېزه:

وايي، کله چې مومند بابا هلکینه کې له پلار سره له کابله خپل کلي ته تللی و، چا ورته پېغور ورکړی و چې ولې یې پښتو نه زده، هماغه و، چې کابل ته له ستنېدو سره یې پښتو زده کړې ته ملا وتړله او دومره په کې مخ ته ولاړ چې ټول برخلیک یې ورترغاړې شو او ټول اند و ژوند یې ورته وښانده. زما په اند په تورکیه کې یې پوځي زده کړیزه استوګنه د دغې لیارې تر هر څه ستره انګېزه وه. ده له نږدې څخه د مصطفی کمال (اتاتورک) فرهنګي سمونواله (ریفورم) لیدلی و، چې څنګه یې خپله تورک ولس او تورکي ژبه له عربي او غربي اغېزه ازادوله او څنګه یې له دغې لیارې د یوې نوې او پرځان ویسا تورکیې د بنسټ پخولو ته متې رانغښتې وې.

او په زړه پورې بیا دا چې په توره سقاوي واکمنۍ کې یې د ایران له استوګنې هم ډېر څه زده کړل، هغه مهال ایران غوښتل، د تورکیې په پېښو د خپلې پارسي په سپېڅلتیا او پیاوړتیا خپل ځانګړی ملي وکر جوت کړي. مومند بابا د نجات په جګړه کې د یوه پاخه پوځي جنرال په توګه داسې غوځ نقش ولوباوه چې د نادر او د هغه د نورو تش په نامه پوځي سوبمنانو ورونو خپل شپږم ورور وګاڼه لو مړی د کندهار تنظیمه مشري ور ترغاړې شوه چې د ترکستان د ((افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو )) پلان ورسره غوټه و. مومند بابا د قطغن او بدخشان د یوه تکړه نائب الحکومه (شېرمحمد ناشر خروټي) او داسې نورو همکارانو په مرسته وکړای شول، په څو کلونو کې تورکي او افغاني توکم سره داسې واخښل راواخښل چې بیا چا د ((پان تورکیزم)) نوم هومره هم وانه خیست. له تازه دمونو مېشتو پښتنو، هزاره وو، بلوڅو، پشه ییانو او د افغانستان د جنوب نورو ټېرونو سره د تورکستان جبې نورې پر شولګرو او غنمګرو، پالیزونو او پومبو بدلې شوې او له دې سره سره زموږ پیاوړی سمونوال (مومند بابا) په هغو سیمو کې د افغاني ورورولۍ بلینده ولګوله. د خوراک پوښاک او استوګنې ډولونه او بېلابېل دودونه جالونه سره همرنګ او هماهنګ شول، چې دا دی نن سبا په کې څوک د تورک و تاجیک، مغول او پښتون توپیر په اسانه کولای نه شي، مړې ژوندی یې سره ګډ دی او یو د بل پر ژبه لکه د یوې کورنۍ غړي پوهېږي.

دا تاریخ بیا وخته زبات ته رسولې ده چې د افغاني ټولنې په هویت ټاکنه کې د لوی مومند بابا ونډه څومره اغېزمنه وه.

دده په غوښتنه او نوښت پښتني اتڼ ملي اتڼ National Dance او د بیرغ غوندې درې رنګه پښتني کالي افغاني ملي کالي ومنل شول. د ژمي چې به ننګرهار ته راغی، خلک به پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامات شول او ده به هم ورته د خوراک، پوښاک، مړي ژوندي او ښو ښو دودونو او رواجونو او بیا د نوي ژوند واک تبلیغ او لارښوونې کولې، ژبه به یې تریږ زده کوله او ژبه به یې ورزده کوله، جومات ته به چې لمانځه ته ولاړ، ملایانو ته به یې د دیني لارښوونو او ورمونو ترڅنګه د خلق الله د خدمت ډېر ټینګار هم کاوه. د طالبانو او چېانو اتهونه به یې هم ورسمول او د دې لپاره چې تقلیدي اتڼ یې ورته ملي کړی وي، په خپله به پاڅېد، لستوڼي به یې وایستل او پر اتڼ به یې ورته پیل وکړ. ده به د یوه پلان له مخې هر ژمی خپل استوګنځی بدلاوه، کله به خپل کلي ((ګلايي)) ته ولاړ، کله به کونړ او کله کومې بلې ختیزې سیمې ته، اوړی به یې هم همداسې کله پر کابل او کله پر سمنګانو یا کومې بلې سیمې تېراوه. د ننګرهار او کونړ خلکو تر مومند بابا د مخه له سبو او ترکارۍ سره دومره مینه نه درلوده او نه له ونې غنې او مېوې دانې سره.

## معیاري (کره) او نږه پښتو:

مومند بابا لومړی روښاندې او بیا پښتو مین لیکوال و چې تر هر څه د مخه د ((یوې یوازینۍ کره او نږه پښتو)) ربړې ته پوره ځیر شوی و. زموږ له اوسني معیاري غورځنګ سره یې توپیر دا و چې ګړنۍ او لیکنۍ پښتو یې همزمان سمول غوښتل او دغه کار یو نادوده او ناشونی دی. موږ د وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب همدغو هلو ځلو ته له نويو ژبپوهنيزو آرونو سره سم پاينبت ورکړ او تر هر څه دمخه مو د ((يوې يوازينۍ بشپړې کره ليکنې)) پښتو ربړه رامنځته کړه. د غړي پوهنې له پلوه د ((منځنۍ)) د پښتو معياري ګرځول بيا هم له همده څخه راپاتې دي، په تېره د (سه x) او (رg) په برخه کې. سره له دې چې د ويي رغاونې له آرونو سره يې کومه سستماتيکه پېژندګلو نه درلوده، خو د ډېرې نوې رغاونې (نيولوجيزمونه) يې له پښتو ويي رغاونې سره نابانديوو، لکه تکرست (ورزش، پاس پاس (هسک)، توپن (نري)، تپنى (سياح)... هڅوب له بېلابېلو ټکو (هـ، ح،و، ب) څخه رغولى و (هغه څه چې ولسونه بېلوي، چې انګرېزي (هوکې= O.K. = no kill) ته ورته برېښي. د ژبپوهنې په برخه کې يې ((پښتو ليار)) او ((پښتو سيند)) د نوي علمي ژوند له ګټورو پيلامو څخه ګڼل کېږي.

## برى او برياوې:

د مومند بابا د ناپايه هلو ځلو - پېړۍ او برياوې پر ۱۳۱۶ (۱۹۳۷) کال د يوازينۍ ملي او رسمي ژبې په توګه د پښتو رسمي کېدلو سره پيل کېږي، همدارنګه د شلمو کلونو په سر کې په ټول هېواد کې د يوازينۍ تعليمي ژبې په توګه او په پښتو ژبو سيمو کې د دفتري ژبې په توګه د پښتو دود بدنه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغو هلو ځلو له پايلو څخه ګټل کېږي. په راډيو ، ورځپاڼو او نورو ټولنيزو رسنيو او علمي خپرونو (لکه اريانا ، دايرة المعارف او جغرافيايي قاموس) کې د پښتو ورګډ بدل د مومند بابا له نامه سره ټينګ تړون لري. پر پښتو ټولنې سربېره په تاريخ ټولنه او نورو علمي او خپرنيو څانګو کې د پښتو ونډه هم همداسې دروا خله.

د مومند بابا اند و ژوند د وروستيو شېبو وروستنۍ پېره همدا وه چې خبر شو ، د ۱۳۴۳ په نوي اساسي قانون کې پښتو او دري يو شان رسمي ژبې کښل شوې وې، له ايبکو څخه يې اعليحضرت محمد ظاهرشاه ته تليفون وکړ چې: ((اخر مو پښتو له پاړسو سره څلېښت کړه !)) پاچا ورته وويل:

ـ په کميسيون کې پښتانه نماينده ګان لکه مجروح، شفيق، حامد... هم وو... .

هغه ورغبرګه کړې وه، زه دا يو هم نه پېژنم...

هغه و چې محمد يوسف صدراعظم د قانون د توضيح په وينا کې ((ملي)) ټکی له پښتو سره ونښلاوه او مياشت دوه وروسته دغه جنګيالي او فرهنګيالي پښتون د تل لپاره له نړۍ سترګې پټې کړې. ياد دې تلپاتې وي.)) (۲۵)

×××

## ((د محمد ګل خان وروستۍ ليدنه))

(c) ketabton.com: The Digital Library

((کله چې محمد ګل خان بابا، جرمنیانو په سروبې کې له روغتون څخه رخصت کړ، نو دی ننګرهار ته راغی او په ننګرهار کې د حبیب خان پر ځای د بېره شو. زه د ده په پښتونولۍ ډېر مین وم ځکه چې لومړی ځل ما په کندهار کې عریضه نوشته کوله، نو عریضه لیکونکي په پښتو نوشته کړه، زما پښتو نه وه زده، ورته مې وویل چې عریضه را نوشته کړه، دغه عریضه ده، په پښتو ده، وزیر بابا امر کړی دی هېڅ شی بې له پښتو په بله ژبه نه شي لیکل کېدی. له پښتونوالۍ سره دغې مینې زه د بېته مجبور کړم چې له کابل څخه د (لته بند) پر لاره باندې ننګرهار ته راشم، د بېسودو پُل نه و، په جاله کې راغلم. وزیر بابا چې زه ولیدلم وې ویل: ((زه د دې سړي په تندي کې دا لیکه وینم چې دی به د پښتو ډېر خدمت وکړي.)) نو زه یې په غېږ کې ونیولم نو وې ویل: ((سردار کبیره مه د پښتو خدمتګار شه او دا خبره مې هېره نه کړې فولکور را اخله، ټول کارونه به دې په فولکور وي)) ما ورته وویل چې بابا زه ستا دا قول او وعده سرته رسوم. ده وویل: ((حبیبي، خادم، جرار دا مې پښتانه کړل او د پښتو د خدمت لپاره مې وګومارل، ته یې هم ملګری شه چې پرې یې نه ږدې.)) ما د ده لاسونه مچ کړل او ده په سر مچ کړم او له هغې وعدې وروسته دا دی پنځوس کاله کېږي خپل خدمت ته دوام ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې وزیر بابا د لویې جرګې مشر و ، نو ده افغانستان د غرب له غلامۍ نه خلاص کړ ځکه چې تر دغه وخته پورې د نادر خان کورنۍ د غربیانو له اشارې پرته هېڅ نه شول کولای، خو مومند بابا د لویې جرګې طرحه داسې پیش کړه چې افغانستان کولای شي له هر مملکت سره روابط وساتي او کومه ګټه چې د افغانستان لپاره ترې حاصلېږي هغه حاصله کړي. دغه نظر و چې افغانستان د غیر منسلکو ملکونو په ډله کې وشمېرل شو او تر هغه وخته پورې دې حالت ادامه درلوده چې د (خلکو ډیموکراتیک ګوند ) قدرت لاسته راوړ، تر دې دمخه افغانستان د وزیر بابا توسعه عملي کړې وه. ) ) (۳۲ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځونه


۱- اصلاح ورځپاڼه، د ۱۳۴۳ ال کال د ۵ میاشتې ۲۸ مې نېټې
ګڼه.
۲- محمد ولي ځلمی، زمونږ غازیان، د علومو اکاډمۍ،
۱۳۶۸ ال کال، ۱۹۲ مخ.
۳- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۳۴۶ ال کال،
۱۲۵۷ مخ.
۴- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۳۴۶ ال کال،
۱۲۵۲ مخ.
۵- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۳۴۶ ال کال،
۱۲۵۲ مخ.
۶- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۱ ټوک، ۲۹۹ مخ.
۷- د بابا مشالونه، د سرمحقق عبدالله بختیاني خدمتګار
راټولونه، کابل چاپ.
۸- اردو مجله، ۱۳۶۹ ال کال، ۵ ګڼه، ۷ مخ.
۹- د خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي یادښتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰- محمد ګل خان مومند، د پښتو ژبې ليـاره، ۱۳۱۷ل كـال، ۲ مخ.
۱۱- د نازو انا یاد، ۱۳۷۰ل کال، ۲ مخ.
۱۲- محمد ولي ځلمی، زموږ غازیان، ۱۳۲۸ل کال، ۱۹۳ مخ.
۱۳- عبدالخالق اخلاص، د خپلواکۍ څلورمه جبهه، مرتب، حبيب الله رفيع، ۱۳۲۵ل کال، پېښور، ۱۰۲ مخ.
۱۴- عبدالروف بېنوا، اوسنی ليکوال، ۳ ټوک، ۱۳۰۷مخ.
۱۵- عبدالروف بېنوا، اوسنی ليكوال، ۳ ټوک، ۱۲۲۱-۱۲۲۸ مخ.
۱۶- محمـد ګـل خـان مومنـد، پښـتو سـيند، ۱۳۱۲ل كـال، تمهيد.
۱۷- محمد ګل خان مومند، د پښتو ژبې ليـاره، ۱۳۱۷ل كـال، ب مخ.
۱۸- پوهاند مجاور احمد زیار، ویي پوهنه، ۱۳۶۰ل کـال، ۱-۲ مخونه.
۱۹- محمد ګل خان مومند، د پښتو ژبې ليـاره، ۱۳۱۷ل كـال، ر-ز مخونه.
۲۰- عبدالروف بېنوا، اوسنی ليكوال، ۳ ټوک، ۱۲۵۹-۱۲۶۹ مخونه.
۲۱- محمد ولي ځلمی، زموږ غازیان، ۱۳۲۸ل کال، ۱۹۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲- عبدالروف بېنوا ، اوسنی لیکوال، **۳** ټوک، **۱۲۵۷-۱۲۵۸** مخونه.
۲۳- عبدالروف بېنوا ، اوسنی لیکوال، **۳** ټوک، **۱۲۵۲** مخ.
۲۴- د اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد یادښت، ۱۳۷۰ل کال.
۲۵- د پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار یادښت، ۱۳۷۰ل کال.
۲۶- د محمد دین ژواک یادښت، ۱۳۷۰ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه



محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی پر ۱۳۴۲ل کال، د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ دنیازیو په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی.
لومړنۍ زده کړې یې د الینګار ولسوالۍ د سلینګار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي دي، تر هغه وروسته کابل ته راغی او په خوشال خان لېسه کې شامل شو. پر ۱۳۶۲ل کال له نوموړې لېسې څخه په دویم نومره بریالی او پر ۱۳۶۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شو. پر ۱۳۷۰ل کال له نوموړې څانګې څخه اول نومره بریالی او پر همدې کال بېرته د پښتو څانګې د کدر غړی شو. پر ۱۳۸۵ل کال په نوموړې څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ماسترۍ دوره پیل شوه، یون په ډېر ښه او بریالي ډول دا دوره پایته ورسوله.

محمد اسمعیل یون له ۱۳۷۰ل کال څخه بیا تر ننه پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تدریسي غړی او د(پوهندوی) علمي پوړۍ ته رسېدلی دی، پر استادۍ سربېره، استاد یون د ((کابل پوهنتون))، ((هیلې)) او((شمشاد ))مجلو د چلوونکي دنده هم په ښه ډول ترسره کړې ده. په پېښور کې د چاپېدونکې ((معارف)) مجلې کتونکی غړی هم و. همدارنګه دیو شمېر نورو چاپي خپرونو همکار هم پاتې شوی دی.

استاد یون پر ۱۳۸۱ل کال، په جلال اباد کې بېړنۍ لویې جرګې ته د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو د دفتر مشر شو، ددې جرګې لپاره تر ټاکنو وروسته د جرګې غړی، بیا د جرګې د غړو له خوا د بېړنۍ لویې جرګې دلومړي منشي په توګه انتخاب شو. استاد یون په دې جرګه کې تر خپل وروستي وسه خپل ملي او تاریخي مسولیت ادا کړ او د هېواد دښمنه عناصرو د توطیو مخه یې ونیوله.

تر دې جرګې وروسته، کله چې د افغانستان د اساسي قانون د تدوین بهیر پیل شو، نو استاد یون بیا ددې بهیر لپاره د ختیزو ولایتونو د دارالانشاد دفتر مشر وټاکل شو. په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې لپاره انتخابات هم د همدې دفتر له خوا ترسره شول.استاد یون د اساسي قانون د تصویب په لویه جرګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د نوموړې جرګې د دارالانشا د غړي په توګه خپل فعال رول ادا کړ. ټاکل شوې وه، استاد یون په ختیزو ولایتونو کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره د عمومي ټاکنو د دفتر مسول شي، خو په کابل کې د لویو جنګسالارانو او ځینو تنظیمي مشرانو له خوا پر حکومت او ملګرو ملتونو د زیات فشار له امله له کاره ګوښه شو. ملګرو ملتونو (UNAMA) استاد یون ته وړاندیز وکړ، چې په کابل کې به تر دې لوړه دنده در وسپارو، خو استاد یون و نه منله او خپلې استادۍ ته یې دوام ورکړ.

درې کاله وروسته یې د ځینو ملګرو په زیات ټینګار او غوښتنه، د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا په دفتر کې د فرهنګي چارو د ریاست دنده و منله او په کابل پوهنتون کې پر استادۍ سربېره لا تر او سه دا دنده پر مخ وړي. استاد یون پر ۱۳۸۵ل کال د افغانستان او پاکستان د امن ګډې جرګې لپاره د افغانستان له خوا د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یې هم په ښه ډول ترسره کړه.

استاد یون د خپلو اکلیکوال په توګه په تېرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنیز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، راديويي او ټلويزيوني مرکو کې یې د واقعیتونو او حقایقو د څرګندیان له امله د خلکو په زړونو کې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي. د هغه ملي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د استاد یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. زه ددې شاهد یم، هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دوا ړه راپارولي دي، منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.
مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو استاد یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرایطو کې بیا هم خپل فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کار ته دوام ورکوي.
دا اوسنی فرهنګي کار، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول ګورئ، دا د تېرو شلو کلونو کارونه دي، چې له تېر یو نیم کال راهیسې پرې په منظم ډول کار شوی، اوډل شوي او دادی ستاسو مخې ته ایښودل کېږي، په داسې یو دولتي دفتر کې چې بوختیاوې په کې ډېرې وي، د منظم او ستر فرهنګي کار سرته رسول اسانه کار نه دی. استاد یون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنګي ټولنو (د افغانستان د کلتوري ودې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې) او (د پښتني فرهنګ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو لیکوالو پـه لسګونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغـه راز یې په سلګونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم پـه لسګونو مشاعرې، سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

سربېره پر دې، په یو زیات شمېر، ملي او نړیوالو کنفرانسونو کې یې پـه ښـه ډول د خپـل هېـواد اسـتازي کـړې ده. دلتـه بـه یـې د اثـارو یادونه وکړو:

## اثار

### الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • متکور | لومړۍ شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| • په اورونو کې سندرې | دویمه شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |

### ب- راټولونې:

| | | |
|---|---|---|
| • هیلې | ګډه شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| • نیمګړي ارمانونه | د حیران شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| • د لوونو فصل | ګډه شعري ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| • د نازو انا یاد | د سیمینار د لیکنو ټولګه | دویم ۱۳۸۷ |
| • د استاد الفت نثري کلیات | د استاد الفت نثرونه | دریم ۱۳۸۷ |
| • سیندونه هم مري | د اسحق ننګیال شعري منتخبات | دویم ۱۳۸۷ |

### ج- ژباړنې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه
  د پوهنوال روستار تره کي اثر دويم ۱۳۸۷
- .د افغانستان فرهنګي ميراثونو ته يوه کتنه
  د نينسي دوپرې اثر دويم ۱۳۸۷
- په افغانستان کې د جګړې جنايتکارانو محاکمه
  د پوهنوال روستار تره کی اثر دويم ۱۳۸۷

## د- يونليکنې:

- د اماراتو سفر د اماراتو يونليک دويم ۱۳۸۷
- که يون دی يون دی د اروپا يونليک لومړی ۱۳۸۷
- د پېښاګون ترڅنډو د امريکا يونليک لومړی ۱۳۸۷

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته يوه لنډه کتنه دويم ۱۳۸۷
- استاد زيار د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستوری دويم ۱۳۸۷
- دکابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي پښتو کتابښود دويم ۱۳۸۷
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي ژبانونه دويم ۱۳۸۷
- د پښتو شعر هندسي جوړښت شپږم ۱۳۸۷
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل دويم ۱۳۸۷
- ساينسي پرمختياوې دويم ۱۳۸۷
- بېړنۍ لويه جرګه ولسواکي او زورواکي دويم ۱۳۸۷
- انديال خوشال لومړی ۱۳۸۷
- هيله د خپلو سريزو په لمن کې لومړی ۱۳۸۷
- کلتوري يون لومړی ۱۳۸۷
- فرهنګي فقر لومړی ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

- مرکه او مرکې لومړی ۱۳۸۷
- خوشال په خپل ایډیال لومړی ۱۳۸۷
- د کتابونو په وږمو کې لومړی ۱۳۸۷
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې لومړی ۱۳۸۷
- پښتو لیکنی سمون لومړی ۱۳۸۷
- او سنۍ رسنۍ لومړی ۱۳۸۷
- که نړیوال ماته وخوري؟ لومړی ۱۳۸۷

خدای (ج) دې استاد یون ته ډېر عمر ورکړي او جرئت دې ورته هم تاند لري، الله (ج) دې دی له هر ډول بدو بلاوو وژغوري، په فرهنګي کارو زیار کې ورته د نور زغم او وسېلې هیله لرم.

په درناوي

وفاالرحمن وفا

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# də mahmad gol xān momand āndo žwand ta yewa katəna

**(A glance to the mohammad Gul Khan Momand life and thinking)**

By:
M. Ismael yoon

ISBN 978-9936-500-07-5
9 789936 500075 >

د خپرونو لړ: (۸)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**